عبقریان



شهیدمحمد موسی شفیق

عبقریان



شهید محمد موسی شفیق

دکتاب نوم : عبقریان
لیکوال : شهید محمد موسي شفیق
خپروونکي : سباکتابخانه
بیه : (۲۰) روپي

بسم الله الر حمن الر حيم

سریزه

عبقریان دهیواددستر عالم - ادیب اوسیا ست پوه شهید محمد موسي شفیق دلنډو کیسو لومړني مجموعه ده چي په ۱۳٤٦لمریز کي دکتاب چا پولو دمؤ سسي له خو اچاپ شوی پدغه مجموعه کي دهغه یوه دري لنډه کیسه دعبقر یان په نامه او څورپښتولنډي کیسي دهفته کو ك - ډاکتر صاحب - دتمي کار وان او بر کت تر عنو ان لاند ي پکي راغونډي شویدي

داهغه وخت ؤچي پښتو لنډه کیسه دخپل یو ن په لو مړینو پړاوونو کی وه اویقیناً چي سبا غلي شفیق ددغه یو ن په چټکتیا کي دیوه ادبي مجتهد او مخکښ په تو گه دنو یو ولولویو نوی سفردمنز ل په لو ررهبري کړی دي

مرحوم شفیق پدی اړه نوی لاری په نښه کړي اودیوه سترگوراونو ښتگر لیکوا ل په توگه یي دادبي اجتهادمخه پرانستلي اوپښتوادب یي دعنعنو ي اوروایتي ځنځیرونوله کړیو څخه ازاداو هغه یکنوا خته ، کلیشه یي اوتکراري قالبونه اوچوکاتو نه یي بدل او نو ي کړي دي درحمان باباپه قول :

چي دانور شاعران کاندي هغه نه کا

رحمان کړی نوی نوي اجتهاددی

دغه کیسي که لو یوي خوا دفن په لحاظ دنو یو تجربو او نو ښتو نوپه لور دسفر لارښوونه کو ي نو له بلي خواپه ټولنه دمسلطو شرایطو او نیمگړتیاوو داسي انځورگري اودژوندترجماني کوي چي دلوستونکي په ذهن او تصورکی دصحنو او پیښوداغیز او تسلسل تر څنگ یو رو حي اومعنو ي کیفیت هم په ځا ي پریږ دي او زمور دټو لني دیوه معین وخت او ذهنیت له څر گندوي پرته ځیني تا ریخي حقیقتو نه هم له ځا ن سره لري.

دعبقریان مجمو عي په لنډوکیسو کی تحلیلي او توصیفي اړخ او انتقا دي شعور ډیري ښې غزوني کړی او دپښتو لنډ ي کیسي په وړا ندي یي دنړی له پر مختللي ادب څخه دښي او په ځا ي استفادي او نو یو تجربو هڅي په ډیر مهارت سره پلي کړیدي،مرحوم شفیق دنړي له پرمختللي ادب نه دخپل ملي ادب په بنیاد استفاده کړي اوهیڅکله یي هم پښتوادب دغربي ادب په خم کي ندي رنگ کړي

اودپښتوادب انفرادیت اوځانګړتیاوي یې په ښه شان ساتلي دي پدي توګه هیڅکله هم پښتني اقدار له پامه ندي غورځولي او پښتني ماحول اوتهذیب یې ډیر ښه پکي انځورکړی دی په دغولنډو کیسوکي دټولني نیمګړتیاوو ته ګو تنیو نه اودهغي سمون په ډیر لطیف اندازکي ښودل شوي او په انتقاد کي دزړه سوي او اصلاح حقیقت په ډیره په زړه پوري بڼه نغښتل شویدی - په دغو کیسو کي له ځیرونه په ډیرواقعي اورښتیني تو ګه ځا یندګي شوی او دهغوي رواني او فکري تشخصات او کوایف ډیر ښه معرفي او انځورشویدي لوستو نکي داسي ګڼي چي داپیښی ټولي دده په وړاندي تیری شوي او لکه دفلم هغه ټولي صحنی او رنګونه دده مخي ته ږدي - پدغه کیسو کي دتفریح او ادبي تندي دماتولو په څنګ کي داصلاح او ټولنیزو ستو نزو اود هغو حل ته هم دپا م اړولو هڅه شویده .- ځکه خومو رشهید شفیق دپښتو ادب دنو ښتګر او مجتهد لیکوال په تو ګه پیژنو چي دده فن او هنر زمو ږ دادبي او قلمي هڅو،بریاوواو لاسته راوړنو یوزرین پیر ګڼلي شي .

ښاغلي زرین انځور په سپیدي مجله کي دمر حوم شفیق په لنډو کیسو دخپلي عالمانه څیړني په تر ځ کي لیکي:(*: دشهید محمد موسي شفیق کیسه لیکنه زموږدمعاصروادبیاتو په څیړنه کي دډیرو دلا یلو له مخي یوه په زړه پوري برخه جوړوي سره لدي چي هغه هم یازیاتي لنډی کیسي ونه لیکلي اویا یې موږته ټولی لنډی کیسي راونه رسیدلي خو هغه څه چي تري پاتي شوي ا و هغه لنډي کیسي چي نن زموږ په لاس کي دي دخپل وخت دډیرو ښو اثارو په تو ګه به تل خپل ارزښت وساتي .

مرحوم شفیق پداسي وخت کي لنډي کیسي ولیکلي چي په مصراو بیاوروسته په امریکا کي یې زدکړی ترسره کړي دنړي بیلا بیلي بر خي یې ولیدلي له عربي او انګلیسي ادبیا تو سره له نژدي اشنا شو.

بد غه وخت کي به دي ددغوژبو له ادبیاتو او په ځانګری تو ګه له استاني ادبیاتو څخه اغیز من شوی وي. دهغه وخت دډیرو لیکوالو په تنا سب دشفیق دکیسو نثر روان -خوږ اوداستاني دي - دهغه وخت په داستا نی نثرورنو کي هم په اصطلاح درسمي او یو ډول ژباړل شوي مطبو عاتي نثر اغیزي پرتي وي - چي دشفیق نثر تر ډیره له دغواغیزوڅخه ژغورل شویدي .دده په لنډو کیسوکي طنز په خپل دقیق اوژور هنري مفهوم راغلي یو اځي دملنډو یا هجوی په بڼه نه چي څه خندا تر ی منظوروي -دغه ظنزیه برخي یوه تر خه خندالري چي تر شا یې دخپل وخت ډیر ژور مسایل ،او ټو لنیزی نیمګړ تیا وي او ستو نزي ځان را څر ګندوي - دمرحوم شفیق په لنډو کیسو کي له طنزڅخه ډیر ه په ځا ي استفاده شو ي - نثر یې خوږ شوي او کیسي پري په زړه پوري شویدي -پدغو لنډو کیسو کي دهغه وخت دافغاني تو- لني دژوند دځینو حالاتو دقیقه څر ګندونه شوی پر ډیروارخونو یې یوډول انتقاد شوي اودغه برخي دځینو کیسه لیکونکیو په څیر دوعظ اونصیحت یاپواځي دوچ انتقاد په توګه ندي راغلي بل کو م ټکي چي دشفیق په لنډوکیسوکي خپل ځان

راځلوي هغه دکیسو تو صیفي اړخ دي هغه دخپلو کیسو ځیري (کرکتېرونه) پیښې،فضا او چا پیر یال په ډیره ښه توګه توصیفوي،دتوصیف له پلوه دغه کیسي خاص ارزښت لري .... »

دمرحوم شفیق لنډی کیسي یواځي دژوند تصویر نه بلکي دژوند تر جماني هم ده د ژونددحقیقتونو په راسپړلوکي دښکلو تصوراتو ،باریکوتشبیهاتو اولوړتخیل له مخي خپله ادبي بزرګي ثابته کړ ي اودژوند دهر درد او هرې کرشمې نا زاو اندازیي په ډیره ښکلي اوزړه وړونکي پیرایه کي ترجمان کړي دی

مرحوم په خپل فن کي دحسن او جمال-عشق او محبت اوورسره دملي احساساتواوټولنیزومناسباتو ترجماني او انځورني ډیرښه او رنګین امتزاج راوستلي اودژوند تعبیر او تفیسر یي ډیر جوت او نغد وړاندي کړی دی .څرنګه چي دغه مجموعه دخپل لوړادبي معیارله امله دخلکو ددیر استقبال اوزیاتي علاقي وړګرځیدلي ځکه خوډیر زرکمیابه شوه او له ډیر پخوا څخه یي بیاخپراوي ته اړتیا او ضرورت لیدل کیده له همدي ځایه موږ دغه کیسی دهغه د ادبي اوهنري ارزښت او معنوي قا بلیت له مخي بیا خپروو،ترڅو له یوي خو ا زموږدهیواددکیسه لیکني دبهیرددغه طلایي پپړپه څرګندولو او پیژندنه کي ګټور ثابت شي او له بلي خوا دهیواددیوه نومیالي شهید دانشمند اوستر ادیب دفکر او قلم وړانګي ځلانده وساتل شي .

په مینه او درنښت

شهرت ننګیال

پیښور ۱۳۷۳/۷/۷

اهدا

به این نسل امروز ما که درباد یهٔ
سرگر دان زندگاني به عذاب و
لذت انتقال مبتلاشده

محمد موسی شفیق

عبقریان

سان میشل

پاریس

۱۹۵۵م

او بیهوده می پنداشت همه کسان خانواده استعداد مافوق وخارق عادت دارند. ازینجاست که واژهٔ عبقریان درگفتگوهای نیمه جدونیمه‌هزل مابی‌مقدمه وبی‌ارادهٔ هیچ‌یك ازدوتا، جاگرفت. اوبلکه تادیرها نمیدانست چنین یك کلمهٔ وجود دارد. درذهن او، درسردابهٔ عنعنات پارینی که ازکودکی تاجوانی باخود داشت، نقش تمام کسانی که نسبتی به خانوادهٔ مادر او می‌گرفت، بشمول پدرش، چنان می‌نمود که گویی حتماً موجودات دارای امتیاز هستند. امتیازی که طبیعت‌دراهدای آن‌به ایشان،ازمیان‌همه فرانسویان، منت آنهارا پذیرفته بود. اوباآنکه خودرا شاگرد چابکدست وچابك فهم‌اکادیمی‌زبانهاوعلوم شرقی‌پاریس می‌گرفت هنوزبرای‌گمانی‌که درمورد خانواده فریب آن را خورده بود، نامی درزبانها سراغ نداشت. ازآنرو چون گنجشکان بهاری‌که باپروبال خود می‌خندد هنگامی‌که‌باراول این کلمه‌را شنید روی او، دهن‌اووچیزی‌که ازابرو برای‌خود باقی‌گذاشته بود همه یکجا ازمسرت شگفت. ازهمان شامی که در اپارتمان مشرف بمدیترانه روی صندلی راحت دوستان مشترك ما بااو عکسهای البم خانوادگی اش را تماشا میکردم وناگهان دریافتم که تاچه حد دربارهٔ دود مان خود کودکانه تعصب دارد، دیگر هرگز رشتهٔ آزار دادنش را بدین مناسبت ازدست ندادم. ولی‌این آزار دادن مانند همه کارهای‌بیهوده که آدم بدان می‌پردازد آخر مرابه یك بیهودگی دیگر: فکر کردن در بارهٔ دودمان او ــ واداشت. درحالیکه بنابر اصول خوش‌زیستن،مردنبایدهرگز پیرامون کسان وخانوادهٔ مهرویانی‌که می‌شناسد به تفکر بپردازد، اینك نیروی دماغ وقوت خیال من برای بیش ازیك ساعت کامل قربان کاوش دربارهٔ آن هاست. واین نیرو بدون شك صد ها مورد بهتر داشت که بدان صرف میشد .

شتابی‌که همواره درتسلط بران نیروی زیاد خود را صرف میکند چون آرایش غلیظی برسر وصورتش پیدابود. چند لحظه قبل ازوقت‌معین

دیدم درهجوم عابرین ازآن سوی نسبتاً سرد شانزه لیزی بدین سوی گرم وپرمحبت آن می‌خرامد. همینکه از پشت شیشه هـای روشن برآمدگـی کافه برمتن پیاده رو، نظرش به چهرهٔ منتظر من خورد هم از دیدن مـن درچشمانش برق خوشی دوید وهم ازینکه منتظر اوهستم .

دربرابر او درخود هیچ نوع احساس سراغ نکردم. نیس دختری بود بمشکل میتوان دربارهٔ عمراو حدس راستین زد. اندام‌ظریف‌وباریکش به آدم احساس هفده تاهژده سالگی میداد؛ ونظرهای پخته، آداب‌معاشرت نسبتاً صیقل شده وآثار گذشتنی های فزیکی وروحی‌که برجسم ودرکرده های اوپدیدار بود این خط راتابیست وحتی بیست‌وپنج میکشانید. طرز فکروبیان اونیز مددی درین‌راه بهم‌نمی‌رسانید. گاهی‌به پختگی‌غوره نمای دخترانیکه نوازتعلیمات عالی‌فارغ‌میشوندفکرمیکردوحرف‌میزد. وگاهی‌جرئت داخل شدن درچنان ابحاث پیچیدهٔ روانی، اجتماعی وسیاسی‌را داشت‌که جز دختران مدارس ثانوی کسی به چنان تهور دست نمی‌زند مگردرمراحل بعدی کسب دانش. درزندگی دوچیز برای‌او حتماً‌بی‌ارزش بود: یکی‌حفظ اسرارکس ودوم کار. دوچیز دیگرهم برایش حتماً‌باارزش بود: یکی‌طنازی ودوم یك نوع لاقیدی‌که متاسفانه باعماقش راه نداشت. من بازندگانی‌او ازدیر آشنا بودم. ولی آشنا وبس. خودش فکر میکرد هرگز به زوایای اندرون حیات اوسری نزده وازپیچ وخم روح ودماغ اوآگهی نداشته ام. اگر ازهیچ رهگذر دیـگر نباشد تنها بعلت تنبلی‌طبع‌خود، من‌هم بی میل نبودم حرف اورا بپذیرم ودامن گفتگو راکوته کنم. مگر بااین هم‌دروجود او ودرمجرائیکه زندگانی اواختیارکرده بود برای اندیشهٔ من‌وحتی بـرای احساس من نقاطی بود تحریك کننده وکاوش انگیز .

برحسبیکه معمول اوست، سخن باید حتماً‌باذکریکی ازافرادخانواده آغاز شود. ازدختر عمهٔ‌خود مارتین‌که‌اکنون دربرازیلیا بسرمی‌بردمکتوبی داشت نسبتاً دراز وبحدکافی معمولی. امادرمیتالوجی خانواده ثبت است که ازعبقریان کسی نمی‌تواند معمول وعادی باشد. چشمان نیس گردشد ودریك بهم خوردن پلکها دیدم جای خودرا بیك وکیل دعوی مصمم‌ولجوج میدهد. درهمان دقایقی‌که اومکتوب دخترعمه‌رابسوی‌من‌می‌خواندوبران‌داد تبصره می‌داد من بیاد معلم نسبتاً پیرخود افتاده بودم‌که دیگر سالهاست درآغوش خاك افتیده. درصنف ماجوانی بود باریش وسبیل انبوه‌وخطوط

بیهودهٔ چهره، که خانهٔ اودرده معلم سالخورده قرارداشت. استادبیجهت باین فکرافتیده بودکه اگر این جوان ازعقل ودرایت عاری دانسته شود خواهی نخواهی‌این دانستن برمقام‌خوداوهم‌سایهٔ‌تاریك خواهدافگند.ازآنرو همیشه تصمیم داشت درموقع امتحان باو درجهٔ عالی‌را تضمین نماید.مگر هیهات‌که استعداد محصل بهیچ وجه حاضر نبود بامعلم خوش بین‌ونیت بخیر کمك کند. درروز امتحان همینکه معلم پارچهٔ مشکوك را بدست‌خود میگرفت، ناراحتی عجیبی براو مستولی میگشت، ودریك تلاش مضحك برای یافتن یك اساس ساختگی جهت کمك بامحصل هم قریه، بروتهای سپید خودرا بادستان عصبانی زیر ورومی‌نمود ودرحالیکه بسوی پارچه بدقت نظرمی‌افگند بآوازبلند میگفت: این محصل عجب خطی دارد، اوحتی ازخاطر همین خوش نویسی خود مستحق عالیترین درجه است. نیس مکتوب‌را روی میزگذاشته وپیالهٔ قهوهٔ خودرا برداشت. من نتوانستم‌باو مستقیماً اعتراف کنم‌که درتمام مدت‌مکتوب خوانی اومن مشغول استاد وهمصنف خود بودم. ولی وقتی ازخط دختر عمهٔ خود ستودن گرفت،گفتم عجب خط خوبی دارد وبی درنگ یك‌خندهٔ بی‌جلو سردادم. اوهم بدون آنکه فرصت سوال وتفکررا بدست‌آرد مجبورشد بامن‌یکجا بخندد.جریان های نیرومند یکه صادق باشد به دیگران مجال مقاومت را نمیدهد. بعدازآنکه موج‌خنده درگذشت بلافاصله بشرح زندگانی دخترعمهٔ خود آغاز کرد: اوبعد ازآنکه ازسقوط ازدواج دوم خود اطمینان حاصل‌کرده بود دیگر حتی باخانوادهٔ خودهم نتوانست زندگی‌کند وازآنرو درامریکای لاتین یك حیات آزاد وتنهارا پیش‌گرفته است. همینکه آزادمنش، صریح بی‌ریاء وباجرئتش قلمداد کرد، یقین است درکنج دهان وگوشهٔ چشمان من‌دیباچه‌ای ازتبسم، نگاه اورا متوقف ساخت. بااشارهٔ چشمان کوچك وزنده دل خود ازمن پرسید: یعنی‌چه؟ گفتم: هیچ؛ بجزاینکه می‌خواستم بگویم:ازعبقریانست وبایدچنین‌باشد. فصل‌دومی‌ازیك خندهٔ‌قهقهه‌وبیباك چون تابستانی دروادی سیمای او به بکبارگی شگفتن گرفت. او از آن دهانهایی داشت‌که بهنگام خنده به آبشار های آفتابی میماند. اگر حرف مراکس می‌شنید درمکاتب بدختران‌رسم خنده‌کردن رامی‌آموختند.اکثریت زنان بهنگام خنده یاگرفتار یکنوع عصبانیت چهره می‌شوند ویاهم خنده را می‌گذارند مانند اشك تنها ازیك کنج‌دهان شان بیرون شود وبس.

توگویی یك عمل ناخواسته رابه اجبار انجام میدهند. درشرق‌که زنها اصلا نباید بجهر وآواز بلند بخندند این نوع تشنجهای چهره‌که محصول یك پیکارحاد بین خواسته های طبیعت وخواسته های اجتماع و تربیهٔ اسارت پیشهٔ آنست، خنده زنان راهنوز هم بدآیندتر میسازد. درمحافل خانوادگی وشب نشینی های دوستانه حتماً دیده ایدکه زنان شرقی به دومرحله می‌خندند: درمرحلهٔ اول بعد ازشنیدن‌نکته یابذله‌ای خنده‌بردهن زن هجوم می‌آورد ولی اوجلو شگفتن آنرا می‌گیرد وبه اطرافیان مردخود مینگرد وهمینکه علامهٔ قبول‌را دریابد بعدبه قهقهه اجازهٔ سرازیر شدن می‌دهد. خندهٔ نیس چون‌گل شفتالو می‌شگفت وسراسر دهان کشاده ولبهای پرگوشت اورا بیکبارگی فرا میگرفت باوگفتم : دخترعمه ات آزادمنش، صریح، بی‌ریاء وباجرئت است، درست؟ گفت: بلی‌بدون‌شك. گفتم: اگردست تصادف بااویاری نمیکرد ودرخانواده ای غیر ازعبقریان بوجود می‌آمد این روش‌های اوزیاده روی هاشمرده می‌شد، وامروزدرکنار این‌میز قرمز رنگ ودرشیشه خانهٔ سرراهی این‌کافهٔ طناز- من‌وتومجلس غیبت اورا چاق میکردیم ومیگفتیم: بی‌جلو، بدزبان، پررو وگستاخ‌است. برای اعمال انسان معیاری جهانی ومطلق وجود ندارد. واگر هم عمل بذات خود بهنگام بوجود آمدن، مجرد ومطلق باشد چون نگاه کسی‌که آنرا، خواسته یانخواسته، بچنگ رصد خانهٔ قضاوت خود میدهد، رنگ اندرون خود آنکس‌را دارد ازآنرو اطلاق‌وتجردآن عمل بذات خود نتیجه‌ای جز درعالم مطلق وجود یاوجود مطلق بار نمی‌آورد .

حرف‌که پیچیده شد نیس‌را دیدم مانند همه دختران تنبل نسل‌ما می‌خواهد بگوید: من حوصله ام سررفت. این‌را بگوید وازآن حتی بنام آزادی احساس برارزش خود نیز بیفزاید. هروقت درگونه های لطیف او درشتی پیدا می‌شد دیگر میدانستم صحبت ملایم ونازك‌ما نزد اوبیك‌درس ثقیل دریك صنفی‌که معلمش نه رنگ ورخ قابل دیدن دارد ونه هم ملکهٔ لطیفه‌گویی، مبدل گردید. ولی نمیدانم چرا باوجود نشانه های انزجارکه درچهره وحتی درسراسر انگشتان ظریفش نمودار بود، چون رهنمای سیاحین درخرابه های باستانی به پررویی و حوصلهٔ کامل دوام‌دادم. برایش افسانهٔ مردی‌را گفتم‌که ازعلف نخوردن گاو خود نزد دوستی خردمند وچاره ساز شکایت برده وگفته بود: همینکه زمستان آمده این

حیوان آشنا باعلف‌های سبز، ازخوردن علف خشك اباء میورزد. دوستش باو مشوره داد تـابرای گـا و عینـکی سبز بـخر د و هنـگام خـوردن علف بچشمهایش ببندد. دریکی ازممالك مشرق زمین مردم ازناسازگاری احکام قضات باواقعیت های آشکارای زمان ومحیط شان شکایت داشتند وبرسبیل مثال میگفتند: تمام فیصله هائیکه درمورد خطاهای رانندگان اتوموبیل صادر میشود تقریبـاً درهمه احوال راننده رابـه جزای بسیار

شدید محکوم می‌سازد. ارباب امور درزمینه کاوش کـردند ومعلوم شد تمام قضات اتوموبیل رابردابه قیاس کرده اند وبرانندهٔ آن جزایـی را میدهندکه برای راکب حیوانات بهنگام صدور تقصیر ازعمرها مقرربوده است. نیس بدون شك درزیر شیشهٔ رنگـی اسطورهٔ عبقریان ویا هـم زاویه ایکه زبانها وعلوم شرقی وثقافت محیط برآن بنظر اوبخشیده بود دختر عمهٔ خودرا یك موجود کاملا متفاوت ازموجودات دیگر می‌دید .

مدرسهٔ زبانهای شرقی‌که نیس درآن درس می‌خواند جزء پوهنتون سوربون نبود ولی تابع آن شمرده میشد. صنعت شهادتنامه گـرفتن در اروپا ازین گونه فرقها واصلاحات را بیشمار عرضه میکند. از نوع این مدرسه دراروپا به تعداد زیاد یافت میشود. وجود همهٔآن‌ها مرهون‌یکنوع فقر ثقافتی ویکنوع احتیاج روحی مخصوص اروپـائیان می‌باشد. فضای

اندرون این سراهای دانش‌که اتفاقاً مردان پرنفوذ وسرشناس یـوروپ یاپشت سران قرار دارند ویاهم درداخل تشکیلات آن، بیشتر به فضای کلیسا های کاتولیکی میماند تابه یـك گهـوارهٔ آمـوختن و آمـوزش. نمونهٔ مجسم فراغ یافتگان آنـرا در وجود آن متخصص زبان در نمایش نـامهٔ معروف «بانوی زیبای من» می‌توان دید که دختری از اقوام کاکنی لندن را شهزاده خانم هنگری تشخیص میدهد ودرهیچ کنج‌دنیاکنفرانسی

نیست‌که بدان دعوت نمی‌شود ودرآن حضور نمی‌یابد. اکثر شاگـردان واستادان این مدارس برای همدیگر زبان یاد می‌گیرند ودربارهٔ آن مقاله وکتاب می‌نویسند. درست مانند اکثریت زنهای شیك پوش کـه غالبـاً خودرا برای دیگر زنان می‌آرایند تابرای مردان. وقتی لباس،آرایش‌گیسو

یاصورت شانرا ازیك زاویه نگاه مردانه به نرمش وادب کامل وباحسن وصفای نیت مورد انتقاد قرار بدهید صادقانه وبی‌تامل پاسخ میدهند: توآگه نیستی خانمهای دیگر مثلا آن خانم واین خانم همه به همین طرز می‌پوشند وهمینگونه خودرا می‌آرایند .

نیس‌که خودبه‌پیروی‌ازسنت‌بیگانه پرستی‌خانواده های‌اشرافی‌فرانسه ازهنگام کودکی باحیات دربریتانیا آشنایی داشت وسالهای متمادی را درمدارس زبان وثقافت عمومی‌که تحت‌نظر پوهنتون کیمبرج درانگلستان اداره میشود سپری کرده بود، شاگردی گفته میشد که قبای این مدرسه ـ مدرسه‌زبانها وعلوم‌شرقی‌پاریس ـ رابربالای‌اوراست وبی‌خلل دوخته بودند. اومانند آن شاگردان ممالك مسلمان‌که باثقافت ودین مردم خود ازراه مطالعهٔ آثارشرق شناسان آشنا میشوند،فرانسه‌را ازروی‌نوشته‌های نویسندگان انگلیسی می‌شناخت. باری ازدوگول صحبت میکرد وهمینکه دوسه جمله پیش رفت پی‌بردم ازکتاب دوست من استاد پوهنځی اقتصاد وعلوم سیاسی پوهنتون لندن‌که درمورد جمهوریت پنجم نوشته برای‌من ترجمه میکند. من بااین نوع شرق شناسی وبااین رسم خودرا بچشم دیگران دیدن یاخودرا بهمت دیگران کشف کردن ودریافتن بسیار خوب آشنا هستم ومیخواستم برای نیس چند مثالی ازمشاهدات شخصی خود بیاورم. امادیگر حوصلهٔ اوسررفته بود. دیگر اونمی‌خواست هرزه گویی دماغ مرا تحمل کند. انوثت درزیر پوست اوبی تابی داشت، دستان ظریف خودرا یکجا برروی دستهای من پیچاند.رگ سخن بیکبارگی‌بریده شد. اندیشهٔ من درشتی خودرا ازدست داد. تماس انگشتان دراز وجوان اوباپوست خشن من اززیر موهای غلیظ پشت دست، موجی ازنرمش نوازشگری‌را درسراسر پیکرم یله‌کرد. قطره های خنده که ازکنج دهان خواستگار اووازگوشهٔ چشمان سیاه پشتش سرازیر بودهاله ای‌ازملایمت بدور من آفرید. ملایمتی‌که تنها درحضور یك زن‌زیبامی‌توان آنرااحساس کرد. ازخشونت بحث برون آمدم ومتوجه شدم نیس‌چه زحمتی نیست‌که درآراستن سروصورت برخویش رواندیده. گیسوانش دربرزخی‌ازآرایش مردانه وزنانه قرار داشت. گده های موازگوشهای ظریف او، که درزنان بندرت زیبادیده میشود، بمهارت دور افتاده بود. سبزه های نازك‌پهلوی بناگوش خودرا برسم آن‌هائیکه میدانند چگونه دلربایی کنند بحال خود

گذاشته بود. پیراهن سبك نخی به تن داشت وازسرا پـایش شرنـگی می‌چکید که زن‌را برای ریختن آن آفریده اند ...

شام تنگی برشانزه لیزی سیطره داشت. درپاریس بعدازاینکه روز پشت لب سیاه کند شیطان به پوست زندگی می درآید. آدم فرق ایـن شهر معصوم وپرگنه را ازدیگر شهرهاکه یاهم آلوده اندویا هم بی‌رنگ وبوفقط بعد ازغروب میتواند بفهمد. وچنان‌هم نیست‌که تنها فکربازشدن لانه های عشرت شبانه آن همه تندی ومستی‌را دررگهای پاریس میدمد. باآغاز شام بی‌مقدمه بیقراری گناه سرتاپای آدم‌را فرامی‌گیرد. نیس که ازمستی شام می‌تپید بی‌جهت وناگهان یادی ازسارتر کـرد ومن‌بحال آن بیچاره دلم سوخت. جوانان زیاد درسرتاسر دنیا چون تعبیر دیگری برای مشیت خود نیابندآن‌را بـدو حوالـه میدهند. نیس نخواست از سوال همیشگی خود بگذرد. ازمن پرسید چرا بمن علاقه داری؟ گـفتم چـگونه میدانی بتوعلاقه دارم؟ گفت: کی گفتم‌که میدانم ؟ جوابش رابه خنده ای دادم که میانش چون‌دهل خالی‌ولی رنینش‌معنی داشت. حقایقی‌که‌درروابط بشری ارزش واقعی دارند همانندکه ازدسترس تحلیل ودستبرد منطق دورند. ولی اگر بااو این‌را درمیان می‌نهادم یقیناً برای ثبوت این‌گفته هم ازمن حجت می‌خواست. همینکه برای پاسخ اصل سوال اوآمادگی گرفتم نیس‌را دیدم‌که رمید وبخود پیچید وخمیازهٔ مبهمی درکشید .

درست چون خوابیده ایکه دریك سحرگاه بهاری نـوبیدار میشود وازنورخورشیددرزیرملافه‌می‌ترسدورم‌میکندوبه پهلوی‌دیگرمی‌غلتد،صحبت رابخاطراو عوض‌کردم وازفارسی‌اوکه درمدرسه‌زبانها وعلوم‌شرقی‌مشغول تحصیل آن‌بودپرسیدم‌تاکجا رسیده؟.گفت: بالاخره‌راه آشنایی باحافظ را دریافته ام. تعجب کردم‌ولی بلافاصله دوسه بیتی‌ازدیوان اوسرود.صدای نرم‌او آمیخته بود بااندی‌ازعدم‌اطمینان، برگی‌ازبیگانگی‌ولحنی‌ازسبکروحی حروف درزبان‌فرانسه. خوش شدم‌که‌خوش‌وراضی‌است. بنظرم‌خوشبخت ازآن‌خوردکه هنوزدرسطح‌زندگی‌می‌زیست: درسطح اندیشه،سطح‌احساس وسطح تعلق. تعلق بهرچیزیکه باشد. خود ارزش می‌آفرید وخودهم آنرا رخصت عدم می‌داد. ازبسیاری این جهات بـه انسانهای و حشی وبدوی می‌ماندکه درشهر وجود شان هیچ نوع پولیس وجودندارد.شام درچشمان کوچکش سایه انداخته بود وتنگنای نیمه تاریك درون دیدگانش درست

چون سرنوشت مبهم می‌نمود. نوك انگشتان خودرا باز درون موهای‌غلیظ پشت دست من آهسته فروبرد وآهسته ‌تر ازآن گفت: استاد متون ما آدم سختگیریست و... میان حرفش دویده گفتم: چه میشود، همه زنها ازآدمهای سختگیر زیردل خوش شان می‌آید. گفت:غلط محض! امابهرحال این که موضوع بحث نیست. اویعنی همان استاد متون از من متنی از فارسی معاصر راجهت تحلیل وتجزیه خواسته. بعد دریچهٔ چشمان خودرا تانقطهٔ بهم بستن نزدیك کرد. یك‌کف دست‌خودرا ازروی پشت دست‌من برداشت، زیرکانه جدی شد ودوانگشت دراز خودرا میان‌پیراهن وپوست گردن من جاداد وگفت: مگرنمی‌شود متنی برایم تهیه بینی؟ درزیرپوستم رعشه‌ای ازدویدن دیوانهٔ‌خون تندشده می‌رفت. دستم به سوی جیب‌دراز شدواین‌نامه راکه درآن روزها ازپاریس به یگانه مالك زندگانی خویش درویرانهٔ بابلستان نوشته بودم برایش خواندم :

«پاریس .

۹ مارچ .

گرانبها .

پیر مشرق دوجریان بهم متضاد را حتماً درچنین یك حالتی بهم یکجا سروده که اکنون بر جزیرهٔ مشاعرمن درین شب تنها ولبریزاز عمیق ترین تلاطم خوشبختی سیطره دارد :

قدح پرکن که من در دولت عشق
جوان بخت جهانم گر چه پیرم
چنان پر شد فضای‌سینه ازدوست
که فکرخویش گم شد ازضمیرم

اونه تنها تادیروز بلکه تاهمین لحظهٔ پیشتر درآن قطب دیگر این رستاخیز مستی قرار داشت :

بفر یادم رس ای پیر خرابات
بیك جر عه جوانم کن که پیرم
برآ ای آفتاب صبح ا مید
که در دست شب هجران اسیرم

حافظ ازدسترس ـ نی میخواستم بگویم ازدستبرد ـ زمان ـ بدان خاطر دور است‌که اوبرای عشق سرود می‌گوید نه برای عاشق ومعشوق عصر ومردم خود. درین شهری‌که بیشتر بزنی پخته در نیمروز عمر

درسراپردهٔ گناهان میماند، من ناله‌ای راکه اوقرنها پیشتر نمیدانم‌ازکدام صحراء ، یاده وقریه‌ای سرداده، ازاعماق اندرون خود دمیده می‌یابم :

بیاد یارو دیار آنچنان بگریم زار

که از جهان ره ورسم سفربراندازم

بهرحال شبست ومن به کسی میمانم‌که درقطبهای جنوب زورقش‌را طوفان خشمگینی شکسته وهفته ها نشانی ازنور و زندگی ندیده باشد وناگهان درهمان ظلمت وجمود ویخبندان، برقی ازطلیعهٔ امید برویش سمنزاری از آرزو وجمعیت خاطر بیافریند.

پیام سه چار روز پیش ترا گرفتم. نخست لرزه ای تفسیر ناپذیر براندامم نشست، بعد موجی ازتب بعد رستاخیزی ازسرور وبعدهم یك طوفان ویك آرامشی منجدد ـ که این همه چنین یکجا فکر میکنم تاکنون برانسانی‌تسلط نداشته تاشیوهٔ تعبیری برای‌آن آفریده می‌شد. یك‌حالتی که انسان‌را تابه اعماق حقیقت حیات فرو می‌برد وازآنسوی دیگر محور وقطب این حقیقت ـ که من درین لحظه چون سیاره‌ای آنرا تصویرمیکنم‌ـ برونش می‌برد. حیات به نادرترین، دقیق ترین وفراگیر ترین معنی‌های آن، حیات بطوریکه نه دیده شده ونه شنیده ونه هم چشیده شده .

این جادرین سفر، بردنیای دماغ وقلب وروح وجسد من یك‌امتحان عجیبی می‌گذرد. توگویی همه‌را دریخچالی گذاشته اند وبجز همان یك معنی ومفهوم زندگانی، یارای احساس دیگرهمه چیز ازین همه داشتنی هائیکه وجودرا تشکیل میدهند پس گرفته شده. میدانم این همه گفته ها بدان میماندکه روزی من‌ازمولانا میخواندم ویاهم ازجان پول‌سارتروکلمات وعبارات شانرا نامرتب ونا مفهوم می‌یافتم. چون یاوه های تب محرقه وسرسام. ولی اگر درست بگویم این گفته هارا که میخوانی درحقیقت مجموعهٔ هردو است. درآن، عمق سیر مولوی درگردون آرام ومتلاطم‌روح بزرگ ومنبع لامحدود آن؛ودرآن، نظرتند، سرد،بی‌پروا وگستاخ‌سارترکه ازفرط یخ‌بودن وبرودت خود چون زمهریر می‌سوزاند وازهمه قشرهای ریا ودروغ درظاهر وباطن زندگانی انسانی، درماحول ودراندرون انسان نه چون نور بلکه چون گلوله می‌گذرد. آری این هردو درین گفته هائیکه امشب می‌خوانی یکجاگرد آمده ویکجادیده میشوند. وشایدهم اولین‌باری باشدکه آن دودریك دل، دریك دماغ، دریك روح ودریك جسد چنین‌یکجا

هفته کوك

کابل

دچوب فروشی گذر

۱۳۳۸ هـ ش

گردآمده وچنین هم‌بدست تعبیر سپرده می‌شوند. تنها یکبار وآن‌هم تنها برای تو ...»

شیرین این قرن ازفرهاد خود آرزوی شکافیدن بیستون‌رانمی‌کند. اوگره های زندگانی روزمره را بدست این فرهادان سراسیمه درکافه ها درجاده‌ها، درتیاترها، درمدرسه‌ها ودرمیله های شبانه وروزانه سپردن وباز کردن می‌خواهد عیب مهرویان بعد ازجنگ دوم جهانی آنست‌که هم خسرو می‌خواهند وهم فرهاد. وازهزفصیله چندچندتا. چونکه گره های زندگانی بیشمار است. وهمه‌راهم‌دریك وقت. چونکه«ترس ازدست‌دادن» خاصیت این دهه وشایدهم چندین دهۀ ماباشد .

نیس نامه را ازدستم پراند و...

هفتۀ دیگر اصل ورق پاره های خودرا ازصندوق پست دم اپارتمان خویش دریافتم .

(۱)

زما دعمر نولسم کال‌ؤچه محرقی راباندی یوه ترخه اوبی رحمه‌حمله وکړه. کله چه دحملی ټکنده غرمه تیره شوه اودزوال وخت‌یی راورسیده زما په رګونوکی بیا وینه وچلیده اودژوند تمه مې پیداشوه. داهغه وخت دی چه عموماً پکښې دتخیل باچایی‌وی،خیالونه اوخاطرې‌پرله پسی‌دسړی په سرکی ګډیږی اوځی راځی .

همدغه شپی ورځی وې‌چه زما حافظی بیاهغه خاطـرات راوسپړل اوراوځیړل چه کلونه کلونه ـ آن دماشوم توب له وخته ـ زما په‌مغزوکښی په قلاره قلاره سره راټول شوې‌وؤ داخاطرات‌چه هماغه درنځوری‌په شپو کښې‌وربانديې د«هفته‌کوك» نوم ایښودل شوې‌ؤ، کله‌چه واقعات‌ووماته یی چندان قیمت نه‌لاره بلکه لازما دماشوم توب هغه دوره‌چـه ددې واقعاتو سره نغښتی‌وه دردناکه اودمحرومیت نه ډکه وه .

(۲)

دښار په یوه ډیره ګڼه محله‌کی یوډیر اوږداوسورورجومات دی‌چه دوه (یوه لویه اوبله وړه) دروازې ورته لګیدلی دی. دلویې دروازې پـه سردوه اوچتی مناري ولاړې‌دی‌چه اصلا خوختګر دآذان دپاره جوړې‌کړی مګر اوس یوسمبول اونښه ورته ویلی شی. دمنارودحدنه‌چه سړی‌تیرشی په پنځلس‌شل‌قدمه کښې‌یولوی‌ډنډراځی‌چه داوبونه‌تل‌ډك وی‌اوشاوخوایی پخولښتیو نیولی‌ده. ددې لښتیو غاړوته دخدای عابد بندګان په دوه پښو کښینی اوټول په شریکه ددې لوی اومشترك ډنډنه په هغه خوند او مزه داودس اوبه رااخلی لکه هغه سپاهیان‌چه دقروانی دعظیم‌الشان دیګ نه به‌یی ښوروا را اخیسته اوماډیر پخوالیدلی وو. هرڅوك په همدې ډنډکی لاس اوپښی یوځای وینځی اودهیچا په زړه‌کی هم هیڅ‌نه تیریږی.هرڅوك چه په هغه لویه دروازه راننوزی دادنډیی لومړی پړاو دی خوپه دې شرط چه دهغه اویادهغه دکوم یار دوست داستوګنی ځاې دهغی تیارې کوڅی

شاته نه وی په کومه چه مونږهم یوه شیبه وروسته وررروان یو. دویم پړاو دجومات هغه ډیره لویه کوټه شه چه کوټې دی چه دډنډنه سل‌یونیم سل قدمه وړاندې ښکاره کیږی. دلښتیو دغاړونه چه دخدای عابدبندگان راپاځیږی نومخ په دغو کوټو ورځی ځینی خپل‌مخ اولاس‌وچوی اوځینی‌یی نه وچوی- په‌دی‌باره‌کی همدغسی مختلف اقوال رانقل شوی دی .

(۳)

په یوه‌وړه کوټه‌کی‌چه شنی مگر ډیری ټیټی دروازې لری درې غټ سړی اویووړوکی ماشوم سره ناست دی .

دجومات شاته چه کومه اوږده تیاره کوڅه تیره شوې اودیوالونه‌یی هغسی پاخه اوکلك دی لکه دآبادوونکی زړه‌یی. داکوټه دهغې کوڅی‌آخرته پرته ده اودهغو کوټوپه مجموعه‌کی داخله ده چه دوخت باچا دخپلو سترو علماوو داستوگنی دپاره آبادې کړې وې .

هره کوټه‌یوه پس‌خانه‌اومخامخ‌یوه دپخلی‌کوټه‌هم‌لری. په‌دغوکوټوکی اوسیدونکی علماء ډیرې غټی‌غټی سپینی سپینی پگړی- په سرکوی اوپه خبروو اوتگ وراتگ‌کښی‌یی داحقیقت‌له ورایه ځلیږی‌چه ددوی سره‌دعلو احساس ښه قوی‌دی. هغوی پوهیږی چه یوه خبره‌یی لااوس‌هم ټول ملك لړزولی‌شی، ددوی دخولی یوپودحق اوباطل معیار اودسم اوناسم میزان دی، جنت‌یی‌په یواودوزخ‌یی په‌بل لاس‌کی دی، چاته دااوچاته هغه ښښی اودابښنه دسړی‌په «صفاتو» او«ښو» اخلاقو پورې‌اړه لری. دوی د علم نمایندگی کوی. دپوهی لیکه همدوی تیره‌کړې اوهغه څوك‌چه ددوی په حلقه‌کښی نه راځی هغه گویا امی اوجاهل‌دی. ددوی سره دخدای‌دکتاب کونجی‌ده اودټولو هغومسئلونه خبردی‌چه په خدایی خزانه‌کښی پرتی‌دی هرچاته دهغه دوسی په اندازه برخه ورکوی. همدا وجه ده چه‌ددغومعتبرو کسانو دپاره یوه‌دپخلی‌کوټه دسرپه‌کوټو علاوه ورکړشوی‌ده- هغو درې سړواویوماشوم‌هم دپخلی دکوټونه یوه کوټه نیولی‌ده. داکوټه‌په‌هغه عالم پورې مربوطه ده چه نوکر او چاکرې نه‌دی نیولی او پخلی نه کوی بلکه شپې ورځی په‌چای او ډوډی‌تیروی اوهغه دبازار نه‌تیار را غواړی.

(٤)

دکوټی دډیرتیټ ورنه چه سړی سرور دننه کړی اودډیـرې تیټی درشایی نه یی چه پښه واړوی دننه به درې کسه وګوری چه هریودکوټې بیل بیل دیوال ته تکیه وهلی ده. دوی به یوهم تاونه ګوری اولکه څنګه چه ته دهغوی دتندی اومخ ګونجی شمارلی شی هغوی ستا نه شی شمارلی مګردغوږ پردې یی هومره حساسی دی چه دآواز یوه وړوکی ښکالوهم ترې نه خطاکیږی بلکه لاډیر څله دقدمونو دآوازنه خاوند پیژنی. دکوټی یوه دیوال ته دوه کسه ډیرسره نژدې ناست دی اوپه خپل منځ کی په ورو ورو اووار په وار خبرې کوی .

ددوی مخونو ګونځی کړی اوپه هره ګونجه کی یې یوتعبیر پروت دی سرونه یی یوې خواته داسی کاږه نیولی چه که سړی ورته څیرشی نودغوږونو منظره یی هسی بریښی لکه دوکسوچه دخبرو اتروپه وخت کی یوبل تـه ستر ګی مخامخ نیولی وی. دواړه مخونه آرام مګر غمجن معلومیږی، دواړه تندی په خاورو سپیره دی اودادمازیګر دلمانځه دهغه سجدو نښه ده چه دوی داوږد اوسرور جومات په پلنوپلنـو دوړنوتیږ وایښی دی . ددواړو نابیناؤ دسرنه خیرنی خیرنی سپینی پګړی ول ول تاوې شوې دی.ددوی په مخونو دږیرې رنګی رنګی اوږده اوږده می وریجی تارونه په یونامرتب ډول پراته دی. دیوه په غاړه توره اودبل په غاړه بانجانی چپن ده، دواړه منبلی، دواړه خیرنی اودواړه اوږدې دی، ددواړو نـابیناؤ په خوا کښی غټی غټی امساګانی پرتی دی. ددواړو ړندو چپی خواته یوخیرن دیوال ته نژدې دریم ناست دی ـ هغه په کړه وړه کی هغه نوروسره ښایسته ډیـر شباهت لری اودهغوی غوندې دبینایی دنعمت نه محروم دی (که بینایی ته نعمت ویل جایزوی) دده اودهغو نورو همدومره فرق دی چه دهغوی په عکس دده په لویه خوله دببرو شونډونه لاندې یواوږد اوپلن تبسم دم پـه دم څغلی راځغلی اودده په خواکی یووړوکی لس یوولس کـلن هلك ناست دی چه یوه اوږده امسایی په خواکی پرته ده . ددې هلك نـه یـوه ورځ چاپوښتنه وکړه هلکه ته څوك یی؟ ده وویل: صاحب، عصاکش.

چه رښتیا اعتراف وکړم په هغه شیبه‌کی قطعاً ددی‌ناآشناکسب په اصطلاحی نوم اولقب پوه نه شوم خو وروسته می‌چه بیاسره مختلف‌ذهنی حرکات یوځای کړل نوپته راته ولګیده. ددې هلك وظیفه داده چه دهغو درې کسانونه چه هریو چیرته لرې دجومات داحاطی‌نه بهرځی‌دی‌دامسایو سرا‌وهغه نابینایی بل سرنیسی اودی مخکی اوهغه ورپسی وی. دې‌هلك ته په دغسی ورځو غالباً دغرمی یادشپی غوړ اوپه حواشیو ډك پولاوهم رسیږی اواحتمالا دوه یازیاتی افغانی هم لاس‌ته ورځی اودوزګارتیا پـه وخت‌کی څه لږ وړیر قرآن هم یادوی .

دیوې ارزانی بانجانی سطرنجی کوزنی پیځکی‌ته نژدې دموسکی نابینا بوټان پراته دی. دبوټانوتور داغی داغی مخ دوه درې ځایه په‌وړواو غټو پیوندونو ډك شوی‌دی ته به‌وایې‌په یوزخمی مخ‌چه غټودانو وهلی دوه درې ځایه پټی لګیدلې دی. دابوټان اصیل اوولایتی دی اوبیه‌یـی ددوی داوسنی خاوند دټولو جامو ددرې وارونه هم زیاتیږی. کله چه دابوټـان دسیند دغاړې په هغه معتبر دوکان‌کی چه دښار نازولی نجونی اوهلکان سړی اوښځی پکی راټولیږی- خرڅیدل ددوکاندار په خوا اوخاطرکښی‌هم داخبره نه تیریده چه یوه ورځ به‌یی دامحروم اونابینا انسان‌چه دټولـو خلکو په خیال‌کښې دټولنی داوږو باردی اوپه واقع کښی دخلکو یوه‌لویه روحی اومعنوی نیمګړتیا پوره کوی په پښوکړی. مګر رښتیاچه تقدیرته تدبیر نشته، دبوټانو داصلی خاوند پوره راغله اودنن نه یی پوره یوکال پخواله دې نیمګړې دنیانه سترګی پټی‌کړې، دمرګ واقعه خویی‌دهغه‌دوړو بچو ښځو اومور دپاره ډیره دردناکه وه مګرددغو درې نابیناؤ اود نورو هغوکسانو دپاره چه ددوی په شان یی دخدای کلام په سینه کښی پروت دی اویایی دلیك له مخی لوستلی شی دایونه هیریدونکی فرصت و.

همدا رنـګه د مرحوم د مشر او ځلمی زوی د پـاره هـم دغـه فرصت غنیمت ګڼل‌کیده. پلاریی‌چه مړشو هغه د خوشالیء په خیراتونو اوصدقاتو لاس پورې‌کړ اودهغه دبیشماره مخلفاتو اومتروکاتو دمنځ‌نه‌یی دغه بوټان، دوه جوړه جامی اویودژمی بالاپوش دغه حافظ جی صاحب ته ورکړل‌چه یوکال پخوایی پوره یوه‌هفته هره ورځ‌دهغه په قبر قرآن‌ختماوه اودرې ورځی سرپه سرپه دغه اوږداوپلن جومات کښې داتونه تردولسو پورې په سورت لوستلو بوخت ؤ.

زمونږ موسکی حـافظ جی صاحب مور زادی ړوند دی. پـلار یـې دوړوکتوب نه قرآن‌ته کښینولیؤ اواوس‌یی چه عمر دپنځوسونه اوښتی دی دخدای کلام داوبو غوندې روان ورځی. پخواچه په کلیوکښې اوسیده یوه روژه اوبله روژه به‌یی دتراویحو په ختم‌کی قرآن تکراریده مگر اوس چه په لوی ښارکښې اوسیږی، چیرته چه هرومرو په جومه‌کـی یومړی پیښیږی او چیرته چه سیالی اوشریکی خلك‌حتماً دمړی‌پسی ختم‌اوخیرات ته مجبور وی اوبلکه دشتمنو خلکو په طبقه‌کی دختم اومکلفی ډوډی رواج ډیر ټینګ دی دلته نودده دقرآن ډیر تکرار کیږی .

که څه هم (تاسی نه څه پرده) په اکثـرو ختمونوکښې دی قـرآن نه ختموی بلکه لاخپله سیپاره هم سمه نه خلاصوی، دی پخپله په قرآن کښې دچا سره چل‌ول‌کول‌نه غواړی‌مگردده نورملگری حافظان‌اومخصوصاً هغه مشران استاذان چه ډیره موده‌یی داکار کړی اوزړونه یی‌کلك‌شویدی دی مجبوروی‌چه په لس پنځلس دقیقوکښې دسیپارې ختمیده اعلان کړی کله چه هغه مشر استاذ ارخشی تازه کړی معنی‌یی همداده چه نورنوخوك باید خبره اوږده نه کړی. دی‌چه تازه ښارته راغلیؤ یوځل یی دارخشنی نه وروسته‌هم لاسرخوخاوه اوسیپاره یی ویله مگرنورو استاذانو ددعـا لاسونه اوچت کړل اومشر استاذ دکور خاوند ته دده په حق‌کی وویل: «داحافظ جی صاحب لږ مانده غوندې دی ده‌ته لږه ډوډی وساتیء» دکور خاوند ته هم دده ماندگی چندان مزه ورنـکړه هغه هم غواړې‌چه هرڅـه زر زر خلاص‌شی اودابارې له اوږوسپك شی یوڅو وخته چه دحافظ جی صاحب په کره ویلو اوښه اداء تیرشو په شاوخوا محلو اودجومات‌په‌حلقو کښی دی په مانده حافظ جی صاحب‌مشهور شو.بیابه نوته دمړوخاوندانو ده ته زړه ښه کاوه اونه به نورو حافظانو دی چیرته دځان سره بیوه.

څومره چه دده موده په لوی ښار کښې‌اوږدیده هغومره دی‌دژوندانه په رموزو پوهیده. اوس داسی وخت راغلی دی‌چه دی پخپله په اتوماتیك ډول پوهیږی‌چه کله دسیپاری دختم اعلان وکړی اوبلکه لاکه دده نه مشر حافظ جی صاحب حاضر نه وی دی پخپله هم دارخشی‌توله وهلی‌شی.

په عام طور زمونږ حافظ جی صاحب د سهار دسپیدونه مخکښې دخوب نه راپاڅیږی اودامسا په کومك داو داسه کوزړی مومی اوچه‌اودس تازه کړی نوڅان اول صف ته رسوی. په لمانځه کښی امام ته دسحر په اوږدو اوږدو سورتونو کښی کله کله فتح هم ورکوی. دلمانځه نه چه راوګرزی نودسماوارچی دشاګرد راتلوته غوږ په آواز وی هغه ته ددې ضرورت نشته چه سهرراشی‌اوپوښتنه وکړی:حافظ جی‌صاحب‌څه غواړی؟ هرسبا هغه پخپله هماغه متحدالمال سباناری راوړې: یوچاینك شین‌چای یوه پیاله بوره اونیمه ډوډی.که دې‌ته سړی سباناری‌وویلی شی‌نوهمدغه سبا ناری غرمه هم تکراریږی اوهمدغه دسماوارچی شاګردیی همدغی کوټی‌ته په دولس نیمو بجو راوړی. مابنام هم عیناً همدغه ناری همدغی کوټی‌ته راځی. ددغه رژیم په تسلسل کی یوازینی استثناء انګور دی‌چه داخراوړی اومنی په ورځوکښې ور پورې دغرمی ډوډی خوړل کیږی اوپیسی‌یی دیوچاینك چای دبیی سره یامعادلی اویاترې لږې زیاتی دی .

(٦)

زمونږ حافظ جی صاحب هغومره شهرت‌اومقام‌ته لاهم‌نه دی‌رسیدلی چه دښار دنورو مالتونونه په ده‌پسی دختم دپاره جواب راشی‌دده شهرت محلی دی اوبین‌المحلاتی نه‌دی. نوځکه یی‌ګویانوره هفته خالی‌وی‌اویوازې دجمعی شپه غالباًډکه پیښیږی. دپنجشنبی هرسحر اودده دامثالوپه‌حیات کښی ډیر اهمیت اوحساسیت لری. هرڅوك چه دمطلب خاوندوی په همدغه سحر په دوی خبر کوی‌چه سره غونډشی اوپه لسوبجو دختم‌دپاره دهغه کورته ورشی. عادتاً دمړو دجومی شپه دپنجشنبی په غرمه کیږی داغرمه ممکنه ده مااوتاته عادی وی مګر حافظ جی صاحب اودهغه ملګروته یوه لویه‌ولجه ده. دهغوی په ژوندانه کښی دغه غرمه زبردست حیاتی تاثیر لری. دهغوی دپاره داغرمه هغسی ده لکه لاروی‌ته دچولی دمنځ‌چینه لکه دیوموټرخاوندته ددشت په منځ‌کښې دتیلوټانك. داغرمه دټولی‌هفتی دآرزوګانو سرمنزل، دخوبونو تعبیر، دتخیل حقیقت، دژوند چړچه اود ویتامینو مورده .

مګر کله کله چه خبره دیوې‌عادی جومی شپی‌نه غټه‌وی‌اویاخومرحوم یادهغه وارثان دیولوړ اجتماعی شان وشوکت خاوندان‌وی نو بیایی‌تلین

په غرمه‌نه کیږی‌اوحتماً باید خبره شپی‌ته ووځی اوډیرخلك راوغـوښتل شی .

په داسی حالاتوکی عادتاً حافظان اوطالبان ختم دماسپښین له خوا کوی اوکه دوخته خلاص شی- چه یقیناً همدغسی کیږی- نوبیا دمازیگر مانځه ته بهرځی او ورپسی دماښام مونځ‌هم کوی اوبیانوپه گډه بیرتـه دمرحوم په ځای اودهغه په دسترخان راټولیږی .

دغسی دماښام ورشو نسبت هغه دغرمی ورشوتـه ډیره ببره وی اودپلو اوچلو، سالن اوقورمی نه علاوه پکښې حلوا، فرنی اوتازه میوې‌هم موندل کیږی .

همدغسی یوه ببره ورشو ده چه زمونږ حافظ جی صاحب یی‌په‌دې مازیگر په هغه کوټنی‌کی دخپلو ملگرونه لږجدا کښینولی دی اودهغه په ببرو شونډویې یومعلومدار تبسم رسم کړی دی. د همدغی ببرې ورشو برکت دی‌چه وړوکی هلك (عصاکش) دی حافظ جی صاحب‌ته نژدې‌ناست دی اودهغه نورونه لرې. نن دهغه بوټانو داصلی خاوند تلین دی‌چه یوه میاشت‌کم یوکال یی زمونږ دحافظ جی صاحب سره وشو.زمونږ حافظ جی صاحب د نورو ملگرو سره نن ماسپښین دهغه مرحوم دزوی په‌کاله کـی سیپارې «ختم» کړی او اوس دماښام انتظار په ډیره بی‌صبری وباسی. دخیال دنیایی ټوله حلوا حلوا اوپلوپلو کیږی، خوله یی دم پـه‌دم اوبـه پریږدی اوذهناً ځان دیته‌هم نه شی حاضرولی چـه د خپلو دوو ملـگرو سره په خبرو اتروکښې شریك شی اوددنیا دنیمگـړتوب او هغه دغـه نه شکایت وکړی .

(۷)

چه دماښام مونځ خلاص شو. دپلن اواوږد جومات داوقی امام‌درې دعاگانی هیڅکله هم زمونږ په حافظ جی صاحب دومره بدې نه وې‌لگیدلی لکه په دې ټاکلی ماښام. نن ایله دحافظ جی صاحب دې‌ته پام شوچه‌خدای پاك خوبینا، دانا اوسمیع علیم دی دومره اوږدو، دعاگانوته نوڅه حاجت؟ اوچه امام ددریم ځل له پاره لاس پورته کړ اوپه یونری شان اوږدآوازیی وویل: «دعای حاجات، ادای قرض قرضداران، خلاصی‌بند بندیان، شفای مرض مریضان، شکست کفار فتح اسلام ...»

زمونږ حافظ جی صاحب دحال په ژبه فریادکاوه‌چه زمونږ یی دچا دقرض، بند اورنځ سره څه ؟

ډاکټر صاحب

نوی ښار

کابل

۱۳۳۹ هـ ش

حافظ جي صاحب دخان سره عهدو کړچه که دادعا خلاصه شوه دی به هیڅکله بیادبنده مسلمان هیڅ کارنه اوږدوی: ددعا نه وروسته عصاکش دامسایو سر اوحافظ جي صاحب یی بل سرونیو اودجومات دمناري لاندې دنورو حافظانوسره یوځای شول اودهغه ځای نه دمرحوم دکورخواته پـه یومنظم حرکت وخوځیدل، ته به وایي داوښانو قافله یادزاړو قطاردی.

دحافظ جی صاحب خیال صحیحؤ دمرحوم نارینه زوی دسترخان په رنګارنګو نعمتونو ډك کړیؤ .

دیوې اوږدې او شدیدې مجاهدې نه وروسته چه حافظانو لاسونه ونیول نویودروند سکوت زمونږ دحافظ جي صاحب ماشوم عصاکش پـه یوخوش آیند سوال داسی مات کړ :

«استاذه ! بلی پنجشنبی له دخیره چیرته یو ؟»

(۱)

ډاکټر صاحب چه دیوروپ نه راستنیده نودایی دځان سره غوټه کړې‌وه چه ضرور به دخپل وطن یوه پیغله واده کوی. دده په نظرکښې خارجی ښځه کول اساساً دملیت پرستۍ دمفکورې سره چندان برابر نه وو. ده به حتی لاپه یوروپ کښې‌همیشه خپلوملګروته ویل: «تاسی چه دلته ښځی کوی‌ء هغه زمونږ په وطن کښې ناستی تعلیمیافته نجونی نوچاته دپلو لاندې کوځی لویوی» برسیره پردې داکټر صاحب به په‌دې خبره هم ځان قانع کړی‌ؤ چه دده دهیواد اودیوروپ دثقافتونو بنیادونه سره دومره زیات توپیر لری‌چه‌که دوه کسه ددغو دووبیلو ثقافتونو په غولی‌کښې لوی شوی وی دهغوی به دفکر طرز، دمعیشت لار، دعواطفو اواحساساتو مجری اودهغوی په نظرکښې به داجتماعی اساسونو دتقدیر اواندازه کولو دومره فرق وی‌چه دهغوی روحی اوعاطفی یووالی ورسره بیخی ناممکن ښکاری، دغه روحی اوعاطفی یووالی دډاکټرصاحب په عقیده دښځی اومیړه کیدلو دپاره یوبنیادی ضرورت‌و، په همدې باره کښې ډاکټرصاحب یوه بله دقیقه ملاحظه هم درلوده، ده ته داسی ثابته شوې‌وه چه دیوروپ خلك‌چه دشرق نوم واوری دواره‌یی هغه خیالی دنیاپه سترګو کښې ګرځی‌چه خواره خواره خوبونه پکښې رښتیاکیږی. ده چه کله کله دځینو نجونو سره خبرې کړې‌وې داورته معلومه شوې وه چه هغوی دالف لیلة په سترګو دشرق ملکونوته ګوری، هغوی دیوروپ د مدنیت جلوو دومره سترې اومړې کړې وې چه اوس‌یی دیونوی اویومختلف او مخالف محیط توصیف او تعریف‌ته، خولو اوبه پرینبودې مګر داشوق او ذوق،دغه وارخطایی اوبی‌صبری دشرق په‌کوم‌رګ‌کښې دیوخولږومیاشتو دتیرولونه وروسته مری. بیا نودیوروپ نازولی لوردخپل خوب او خیال دخوږې دنیانه دحقیقت میدان‌ته راکوزه‌شی، هغه جنت‌یی په‌دې میره بدل شی، دلته یی تازه دې خبرې‌ته پام‌شی‌چه دمیړه دوطن خلك ددې په ژبه خبرې نه‌کوی، ددې غوندې فکرنه کوی، ددې غوندې خوراك څښاك‌نه‌کوی دمیلمنو اوخپلو خپلوانو سره‌یې روابط دهغه څه نه چه داور سره آموخته ده ډیرزیات توپیر لری. دلته ځان مجبور ګنی چه دمیلمنو سره دهغومره تودوضعیت اواختلاط نه ځان وساتی څومره‌چه دې‌ته دپلارپه کاله کښې

یواجتماعی ضرورت ښکاره کیده. بالعکس دلته دمیړه دمشر ورور،دهغه دپلار، دتره اونورو مشرانو ښځو اونارینهؤ دومره ادب اواحترام وکړی چه کله کله یې بیخی ملاماتولوته نژدې کوی. دلته باید دې‌تـه هم تیاره وی‌چه میړه به یی ډیر څله یوازې دنارینه وومجلس‌جوړوی اودخپلونارینه دوستانوسره به دومره نژدې په تماس کښی وی اوداسی وضع به‌ورسره کوی‌چه دنفسیاتو یوسودایی عالم حتماً په سوداکښی اچوی اودغیرطبیعی علایقو گومان وربانديې کوی .

(۴)

وطن‌ته دډاکټر صاحب دبیرته راتلونه اوس زیات وکم درې‌میاشتی تیرې شوې دی. چه په یوروپ کښې‌ؤ نودخپلو وروستو پنځو کلونو په استوگنه کښی ورته داضرورت ډیر زیات محسوس شوی‌ؤچه باید دخپل هیواد دثقافت نه پوره خبروی. ده هلته ولیدل چه په خلـکو دې خبرې چندان تأثیر نه‌کاوه چه ده به ورته دفرانسی دلوی انقلاب په باب ګښی څه ویلی شویابه یی‌ورته دیوروپ دفلاسفهؤ نومونه صحیح تلفظ کول او دهغوی په باب‌کښی به یی ورته معلومات ورکولی شو. داخبرې هغوی‌ته دده نه ښی یادې وې،هغوی غوښتل‌چه‌دده دوطن دتاریخ، جغرافیی،حقوقو دفکر طرز اودژوندانه دفلسفی په باب‌کښی دخپلو معلوماتو خزانه زیاته کړی. هغوی دلامارتین دقصیدونه پوره خبروومگر دجامی اوخوشحالخان په باب یی دومره څه نه واوریدلی چه تنده یی پرې ماته شی .

هلته ډاکټر صاحب (دهغه وخت شاگرد) په دی پښیمانه شو چـه ولی‌یی دپښتو اودینیاتو معلم صاحبانوته هغومره غوږنهؤ ایښی‌چه دغرب دفلسفی ښوونکی مستر اوپروفیسورته یی ایښود، دډاکټر صاحب ښه په یاددی چه یوورځ‌یی دخپلو همزولو اوملگرو سره په پوهنځی‌کی خبرې کولی اوخبره په صادراتو وارداتو راغله. ده دانگلستان صادرات‌اووارداتو چست وښودل مگر دخپل وطن د صادراتو په شمارلو کښې مانده او پخ راغی اوچه بحث په ښارونو شونو دیوروپ مشهور بندرونه اوښارونه‌یی په یوه سا حساب کړل مگر دخپل ملك ورته فقط یوڅـو مشهور مشهور معلوم وو اونوریی څه ونه شو ویلی .

ددې نیمگړتیاوو دپوره کولو دپـاره ډاکټـر صاحب د یوروپ پـه کتابخانو کښی دخپل وطن په باب مطالعه وکـړه اوگویا دلاس غوټه یی

په خوله ایله کوله .

په مطالعو کښې ده‌ته دیو مستشرق احساس پیدا شو اوبالاخره یی دځان سره غوټه کړه چه د خپلی ډاکټری رساله هم په خپل ملـك کښې دځینو ثقافتی مسایلو اواساسونه‌په تحول‌اوتطورباندې ولیکی‌اومخصوصاً هغه مستقل عناصر بیان کړی‌چه ده ته په خپل ثقافت‌کـی مهم ښکاریدل اودده وطن‌ته یې یوممتاز اوبیلوونکی صفت ورکړی ؤ .

رښتیا رښتیا اودروغ دروغ، ډاکـټر صاحب چه هـم‌یی ښه درجه اخیستی‌وه ا‌ـهم‌یی ځان دخپل وطن په باب کښی پوره ملاکړی ونویی په ځان اعتماد زیات شوی‌ؤ اودخپلو نورو ملګرو اوهم سبقونه ورته په ځان کی یوڅه زیات ښکاریدل، غرور خوورته سړی نه شی ویلی مګر پرځان اعتماد اودخپل نفس نه رضائیت یی بللی شو .

اوس چه دډاکتر صاحب په وطن کښی ځومیاشتی تیرې شوې دی نودکور آبادولو فکر ورسره جدی دی. دی په دې ښه پـوهیده چـه دده په وطن‌کښې څه کلاسیك وسایل دښځی دانتخاب دپاره مـوجودؤ مـګر دیوروپ اتو کلونو ورته داخبره هم ګرانه کړې وه چه اوس یوداسی‌څوك دخپل ژوندانه ملګری کړی‌چه بیخی ورسره نه پیژنـی، پـوښتنو پلټنو ډاکټر صاحب‌ته داخبره ثابته کړه چه اوس اوس دده په ملك کښی‌دښځی کولو دپاره دپخوانی اوغربی میتودونو یو مخلوط استعمالیږی، څوك بـه پیدا کوی‌چه دشپی مجلسونوته دی لارپیدا کړی بیابه هلته دجینکیوسره پخپله آشناکیږی، بیابه‌بل څوك پیداکوی چه دمور اوپلار سره یی خبرې وکړی اوممکنه ده پخپله دجینی سره هم همدغه څوك خبره غوڅه کـړی ددې نه برسیره به دمشر کاکا، ابی اوبابا دنظریاتو دښه کولو د پـاره هم څوك برابروی .

(۳)

ډاکټر صاحب دخپل ملك په پایتخت کښې اوسیږی، دانبارهم دده دملك دنورو ښارونو اوعلاقو اوهم ددنیا دنورو ښارونونـه ډیروخواصو بیل کړیدی. اول خوداده چه دلته یوډیرقوی طبقاتی امتیاز موجود دی‌مګر دپردی لاندې. په دې ښار باندې دغربی تمدن دظواهرو یـوه داسی چپه راغلی‌ده چه نور ټول معیارونه او مقیاسونـه یی د ځان لاندې کـړی دی دژوندانه دتقلیدی اوپخوانی نظام دځینو اساساتو سوء استعمال اودهغی نه سوء استفادې پخپله هغه نظام دخلکو په نظر کښې بدکړی دی .

داچه دځینی‌نورو عواملوسره یوځای شوی‌نویی‌ددې ښاراوسیدونکی دخپل ثقافت دبنیاد اودخپل ژوندانه دنظام داساس نه نه یوازې بیگانه کړی بلکه دهغه نظام اوهغه ثقافت پرضدیی ددوی سره عجیبه بدبینی کرکه اوتیښته پیداکړې ده. دبره چه هرڅه راځی هغه ښه دی اودلته چه هرڅه شته هغه بددی دا ددې ښار داوسیدونکو د تفکر دطرز اساس دی اوداکټر صاحب‌چه دبره‌تازه راغلی‌دی په همدې اساس‌ښه دی‌اوهرڅوك‌یی قدر اوعزت کوی که څه هم پخپله داکټر صاحب لاتراوسه په دې سرپوره نه دی پوهیدلی .

(٤)

ماښام تیاره ده، دپاخه سړك اړخ‌ته چه کوم کورونه په ناموزون ډول قطار شوی دی دهغوی په منځ‌کښی دمحبوبه جانی کورهم دځلورو نسبتاً جگودیوالونو دننه پروت دی. محبوبه جانه اوس پنځوس کلنی ته ورنژدې شوې ده او دداسی یوې لویی کورنۍ لورده چه یوه ورځ یی هرغړی مځکی‌ته ویل: «ته څه اوزه به بیادرځم» محبوبه جانه بیشماره وریرونه، وریرې، خوریونه، خورزی، دتره لونی، نمسی اودغسی‌نورخپل خپلوان لری. دمیړه دمرگ‌یی تقریباً شل کاله کیږی اودهغه نه ورته‌یو دوه کورونه پاتی شوی دی‌چه خارجیانوته یی په‌کرایه ورکړی اوښایسته ښی پیسی ورته دمیاشتی راځی. داپیسی دومره لږې‌هم نه دی‌چه محبوبه جانه ورباندې دیارانو دوستانو دجومی شپه گرمه نه کړی‌شی اودومره ډیرې هم نه دی‌چه دهغوی دسوغات، تحفی اویونیم کومك نه ورباندې بیخی بی‌نیازه شی، یعنی گویا دمحبوبه جانی ژوندون دکور په کرایه ولاړ دی اوهغه هم باید خارجیانو سره په کراوی او خارجیان خو اول دسره دمحبوبه جانی سره‌چه په هیڅ‌خارجی‌ژبه‌نه پوهیږی‌نه بلدیږی‌اوچه بیاکوم یونیم‌ورسره‌بلدهم‌شی نوهغه خودابد دپاره‌په دې‌ښارکی‌نه اوسیږی‌ضرور به څی. ددې‌معنی داده‌چه تقریباً هرکال محبوبه‌جانی‌ته دخارجیانودآشنایی مشکل تازه کیږی. ددې دپاره محبوبه جانی پیش‌بینی کړې‌چه ددوستانو آشنایانو په حلقه کښی داسی څوك هم شامل کړی چه هغه دخارجیانو سره نژدې رابطه اوتعلق ولری، دخپلو خپلوانونه هیڅ خیر نشته هغوی همیشه په خپلو خولوکښی ډوب وی اوچه کومك دې تری وغوښت بیاستا په‌کار کښی دومره مداخله کیږی چه پخپله خبره به دې پښیمانه کړی

PROPERTY OF ACKU 4571

نوځکه دمحبوبه جانی په کورکښې دآشنایانو دوستانو شمار همیش که دخپلو خپلوانو نه زیات نه وی کم هم ندی، دمحبوبه جانی هم داخبره په طبعه ډیره برابره لګیده چه ددوستانو آشنایانو حلقه ورنه تاووی، صفت یی کړی سخاوت اوښه طبعه اوګله ګله یی جمال هم ستایی، دښار نوې زړې ورته راوړی اودهری افواه هری خبرې اوهرې پیښې نه یی خبروی. ډیرخلک دې چه ددغه ښار په نسبتاً تنګ محیط کښې بل ځای سره نه شی یوځای کیدلی نوهغوی هم داغنیمت ګڼلی چه دلته سره ګوری، دهغه ځلمی هغه پیغله خوښیږی مګر بل ځای سره نه شی راټولیدلی. دواړه کوښښ کوی چه محبوبه جانه وپیژنی اوبیا دهغی دجومی دشپی په ټولنه کښې شریک شی هغه څوک چه غواړی چه دچا دنفوذ نه استفاده وکړی دواړه دمحبوبه جانی ددربار لمن نیسی اومرادته رسیږی. ځینی داسی دپاخه عمر معتبرکسان هم شته چه بل ځای نه شی کولی خپله تنده ماته کړی هغه هم دغه دربارته راځی .

(۵)

هو! تیاره مابنام دی اوزمونږ ډاکټر صاحب خپل خوراښکلی کالی په ځان اچولی اودمحبوبه جانی د کور پلوته چه ده ته هم نه دی معلوم لکه دیوی مجهولی آیندې خواته درومی. دتنګ پتلون تنګی پیځی یی دایټالوی بوټانو په ډیرونریو څوکو باندې نیغی ورپریوتی ، کمیس یی تک سپین له وزایه ځلیږی اودنیکټایی غوټه یی هم په آخرین مودجوخته ده اوهم یی دجرابو سره رنګ یوشان دی، دنسبتاً توري دریشی سره ډاکټر صاحب یونسبتاً سپین واسکټ هم اغوستی چه ډیرې قیمتی تنی وربانديې لګیدلی دی. دډاکټرصاحب سراوصورت پخپله دده دیوروپ داتوکلونو په هستوګنه شاهدی وایی، دده سره پخواکښې چه کوم ملګری روان دی هغه په ښارکښې دهرچانه زیات خارجیان پیژنی اودهغوی دبرکته دمحبوبه جانی په دربارکښې دهرچانه معتبر دی، دومره معتبرچه حتی میلمانه یی هم پکښې عذریږی .

ډاکټر صاحب ته د لارې ملګری دومره ډیرې خبرې دمحبوبه جانی ددربار په باب کښې کړې وې چه هغه په مشکل کولی شو خپل وجداوشوق اوبی صبری پټه کړی .

دلارې په سرهرښکلی اوښایسته کور ډاکترصاحب ته دمحبوبه جانی

دربار بریښیده اوچه هره ښکلی پیغله یانیمزالی به یی ولیده نوفکر به‌یی کاوه‌چه داهم حتماً هماغه دربارته روانه ده، دیوخلور لاري کوزنی کونج‌ته یوه خره دروازه وه‌چه بالاخره دډاکټرصاحب ملګری‌ورستون‌شو اوهغه‌یی وتکوله. ډاکټر صاحب‌چه خودکور در اودیوال‌ته پام کیده بیاوردننه‌شوی‌و په دهلیزکښې‌یی‌دساز اوسرود آوازتر غوږه‌شو، معلومه شوه چه نن‌کومه خاصه میلمستیا ده .

(٦)

ډاکټر صاحب چه محبوبه جانی‌ته معرفی شو دهغی دسترګی مشی اوخواره مشی نه معلومه شوه چه دډاکټر صاحب په باب‌یی معلومات‌لرل مګر دامعلومات لکه څنګه چه ډاکټر صاحب فـکرکړی‌و هغومره ډیرنه وو محبوبه جان اودهغی نژدې حلقه همدومره خبرووچه دی اروپا دیده ډاکټر دی اوښځی پسی ګرځی اوبعیده نه ده چه دهغی دکومی وریرې سره یـی نصیب وشی .

مجلس ډیر ګرمؤ اوځلمی اوپیغلی، دپاخه عمرښځی‌اونراوحتی‌ځینی بوډاګان اوبوډۍ هم پکی‌وې، ښایسته مشهور سندر غاړی داغزل غږاوه:

بیا تاګل برافشانیم ومی درساغر اندازیم

فلك را سقف بشګافیم وطرح نو دراندازیم

اوچه په دې غزل‌کښې به یی هره نوې کړۍ اچولـه، ته به وایـی دمجلس سرګرمو نروښځودشوق اسونوله به یی متروکه ورکوله .

ډاکټر صاحب په یوه حلقه‌کښې کښیناست، دډیرو نجونو ورته‌پام شولکه چه دده دحال نه هغوی هم لږو ډیر خبرې وې، ډاکټر صاحب ته خدای شته دغرور یوه نیشه‌هم پیدا شوه، په دغه حلقه‌کښې‌دمحبوبه‌جانی یوه خور ناسته وه چه څلور پنځه خویی سکه وریرې لرلی، دیوې وریرې نوم‌یی هوسی وچه ١٧کلنه وه اوډاکټر صاحب‌ته مخامخ نژدې ناسته‌وه هوسی ښایسته ښه مخ، ښه وینښتان اوښه اندام لاره، دغاړې جامی یی دپاریس په هغه فیشن برابرې‌وې چه دډاکټر صاحب دراتلونـه وروسته دکریستان ګنډونځی راویستلی واونه یوازې دهوسی بلکه تقریباًدمجلس دټولو پیغلو اونیمزالو جامی دهغی په اساس ګنډلی شوې وې .

دنجونو اوښځو دشونډو، دمخ، دلاسونو اوسینونه داسی معلومیده لکه چه دالیزابت اردن دکارخانی په کومه ذخیره ددې مجلس دښځو لاس

برشوی وی، دوروځو ښکرونه دچاسم تلی وو اودچاکاره، مگر ټولو بی استثنا په خپلو وریځو باندې دتورقلم وریځوته ترجیح ورکړې وه. ډاکټر صاحب چه دغسی غلیظ ماکیاژ یوازې دپاریس په ځینو خاصو ځایونو کښې لیدلی و، نویی ابتداء په هوسۍ شك راغی اوبیایی چه ولیدل چه ټولی ۱۷ کلنی اوحتی ۱۵ کلنی جینکی همدغسی په همدغه ډول وې، پوه شوچه سهویی کړې وه، دلته باید دپاریس کلیات تعقیب نه کړی، داسو دا هم ورته پیدا شوه چه ممکنه ده دده خومیاشتی پخوا پاریس بـه داوسنی پاریس نه توپیر پیداکړی وی.

دقیمتی عطرونو تیزې اوتُندې رایحې فضاډکه کړې وه، ډاکټرصاحب بیخی گومان نه کاوه چه دی گوندې پخپل وطن کښې دی، هغه وطن چه ده په فقر پیژندلی و اونن یی دهرې پیغلی اونیمزالـی کمیس دده ددوه درې میاشتو معاش پوره کوی .

دی لاپه همدې چورت کښې اودخپلی آیندې ویرې اخستی چـه ناڅاپه ورنه دهوسۍ ترور پوښتنه وکړه :

ـ ډاکټر صاحب ستا معاینه خانه چیرته ده ...؟

اوچه ډاکټر صاحب ځان ځواب ته جوړاوه هغی تری نوری بی واره پوښتنی وکړی :

ـ دورځی خومره مریضان درته راځـی ؟ یعنی دورځـی گـټه دې خومره ده؟

په کومه شفاخانه کښې نوکریی ؟

ډاکټر صاحب په ډیر مشکل وکولی شوچه دهوسۍ دترور د یوې وقفی نه استفاده وکړی او ووایی :

ـ صاحب وبخښیء زه دطب ډاکټر نه یم .

ـ ماته خو ټولو ویلی ووچه ته ډاکټر یی .

ـ ډاکټر یم مگر دطب نه .

ـ یعنی آشنایان دې درته هسی په ټوکو ډاکټر وایی ؟

ـ نه زه دډاکټرۍ شهادتنامه لرم .

ـ نوځنگه ډاکټریـی چه معاینه خـانه دې نه شته او د ډاکټـرۍ شهادتنامه لری ؟

ـ زه دادبیاتو ډاکټر یم .

ـ یعنی‌چه څوك په ادبیاتو باندې پوهیږی اوزمونږ ددې سندرغاړې غوندې ښه ښه شعرونه یی یادوي یوازې دهغوی ډاکټری کوي او د بل چانه ؟

ـ نه‌صاحب زه په ادبیاتو کښې دډاکټری شهادتنامه لرم .

دلته هوسنی مداخله وکړه اوخپلی ترورته یی د ادبیاتو دډاکټری دامکان په باب توضیحات ورکړل او ورته یی وویل : په نوره دنیاکښې دنورو شیانو ډاکټران‌هم شته. دهوسنی ترور هماغسی‌په تعجب کښې‌وه غټه جټکه‌یی خوړلی وه مگر دډاکټر صاحب نه یی بیاهم پوښتنه‌وکړه .

ـ ښه څوکاله سبق دې ویلی ؟

ـ تقریباً شل کاله .

ـ څوکاله په یوروپ کښی وې ؟

ـ اته کاله .

ـ اوس دلته څه منصب لرې ؟

ـ استاد یم .

ـ استاد یعنی معلم یی ؟

ـ هو !

دهوسنی ترور په یو داسی عصبانی حرکت دحلقی نه پاڅیده چه پټول یی گران کار و .

دهغی دوتونه وروسته ډاکټر صاحب بیاوکولی شوچه خپل حواس راټول کړی اودهوسنی سره دخبرولو راونیسی :

ـ داخومره ښایسته کمیس دې اغوستی، داهمدلته جوړ شوی ؟

ـ هو، ټوټه یی دلندن ده مگر جوړ شوی همدلته دی .

هوسنی دډاکټر صاحب سرو صورت خورا خوښ کړی‌و نورانژدې شوه اوورنه یی وپوښتل :

ـ دپاریس نه کله راغلی یی ؟

ـ درې څلور میاشتی کیږی .

ـ ته هلته وې چه دبریژیت‌باردو زوی وشو؟

ـ نه ، زه دفرانسې جنوب‌ته تللی وم .

ـ عجب؟ ته څنگه په هغه وخت‌کښې د پاریس نه دباندې تلی چه دبریژیت باردو زوی کیده ؟

ډاکټر صاحب موسکی شو اوویی‌ویل :

ما خوورویل چه زه دطب ډاکټر نه یم- بیایی زیاته کړه :
ـ زه اصلا سینماته ډیر وخت نه لرم .
ـ ته نوماښام څه کوې ؟
ـ کتاب لولم یاموسیقی اورم .
ـ څومره کتاب لوستل ! څنګه دې زړه نه تنګیږی ؟
ـ زړه مې چه تنګ شی کتاب لولم .
ـ والله عجیبه حوصله لری .
ـ اوس خودغسی ده نو .
ـ اوس چه په ... سینماکښې نوې فلم راغلی هغه دې لیدلی؟
ـ نه مګر اوریدلی می دی چه دارنست همینګوې په یوه قصه بنادی تاهغه قصه لوستلی ؟
ـ نه ماخوفلم لیدلی .
ـ مګر دکتاب لوستل بل شی اوفلم لیدل بل شی دی .
ـ مقصد داچه سړی دقصی نه خبر شی .
ـ نه دامقصد نه دی .
ـ ښه څه ورك یی کړه داقصه پر یږده په کتابو نو کښی خو ته تکړه یی .
ـ هرماښام په پاریس کښې شانزه لیزې ته تللی ؟
ـ نه، کله کله .
ـ دادې بله عجیبه ؟ رقص دې زده ؟
ـ هو !
ـ هره شپه به دې په پاریس کی کړی وی ؟
ـ نه ، کله کله .
دادې بله عجیبه .
دهوسی هم نوره حوصله تنګه شوه پاڅیده اویوې بلی حلقی ته ورنژدې شوه دډاکټر صاحب دوجود نه دهوسی یوه بله ترور خبره شوه نویی خپلو خویندوته وویل: څه کیږی چه معلم دی که نورڅه یی برابروی بیخی درست دی، نودډاکټر صاحب حلقی ته راننوته او دواره یی ورنه پوښتنه وکړه :
ـ تنخوا دې څومره ده ؟

دتمې کاروان

باغوان کوڅه

کابل

۱۳۳۸هـش

ـ دوه زره روپۍ .
ـ دابه ته څه شی کړې ؟
ـ آینده به ښه شی .
ـ ښه کور لرې ؟
ـ تراوسه پورې خونه .
د هوسۍ بلی ترور هم چه ډاکـتر صاحب پر ینبودلـونو ورتـه ویې ویل :
ـ دومره څوك دې هم نه ووچه تاته یی ویلی‌وای: یوبل سبق‌ووایه؟
په همدغه وخت‌کښې ډاکتر صاحب دیولیك دلیکلو عزم وکړاوهغه‌دپاریس ملګری‌ته دراتګ بلنه وه .

دکوم‌کور ددیوالونو دننه چه داقصه شروع‌کیږی هغه دښارپه هغه برخه‌کی پروت دی‌چه دعمر په لحاظ هغومره زړه نه ده ځومره چه ددې نه سهیل، لمرخاته اولمر پریواته خواؤته برخی زړې‌دی. مګر دقطب خواته نوو آباد یوداهم ګرانه کړیده چه اوس دې برخی ته ځـوك نـوې ووایی دآبادی پـه لحاظ ددې برخی اودښار دنورو زړو برخو په مینځ‌کی چندان فرق نشته، په هره کوڅه چه برابرشي دمردارو بویونوه ډوزې به لـکه دکچری سپاهی درپسې شی اولکه داړدغو مبسې غوندې به دې وځغلوی اودغشی په‌شان به‌دې دکوڅې دهغې بلی خوانه وباسی. خرڅې ددوړونه ډك دیوالونه چه ځای په ځای کنډوکپر شوی دی سړی‌ته داسی بریښوی چه ته به وایی هیڅوك ددیوالونوشاته نشته، خوما پخپلو سترګو لیدلی چه ددروازې نه اخواته ښکلی ښکلی کوټی دی، سرې سرې قالینی پکښی غوړیدلی او سرې سپینی پیغلی اونیمزالی پکښی اوسی چه په دې هدیره غوندې کوڅه‌کی دژوند تقریباً یوازینی نښه ګڼل کیږی .

دیوې وړې کوټنی په نمرخاته کونج‌کښی یواوږد اوپلن میز پروت دی‌چه تقریباً دکوټی دریمه برخه یی ټوله نیولی ده: نمر پریواته اوقطبی خواوته یی‌تردیواله پورې یوڅودانی سرې چوکی پرتی دی‌چه دڅرمنـی پوښ اودنرولرګو بازوګان لری. دچوکی د ناستی ځای بوټ راوتلی اود اوسپنې دسیخونو نښی دڅرمنی لاندې اوچته ښکـاره کیږی. د میزپـه سرباندې دبانجانی وړیو یوه شډله ټوټه غوړیدلی اودهغی دپاسه‌یودیوات یوقلم، یوجاذب، یوتلفون اویوه جنتری پرته ده. دمیز شاته په یوه پراخه بازوداره چوکی باندې یوزوړ سړی ناست دی‌چه یوه عمودی شان‌خندایی په ببرو شونډو لکه دکاڼی دکرښی غوندې ښکل ده؛ دسړی‌په‌سریوه‌توره پګړی ده چه دیوې تورې بخملی خولی نه ښویه تاوه شوې اودتندی دمنځ په برابریی دګلاب دیو دوه ورځنی غوړیدلی ګل هومره شمله پریښې‌ده؛ دزاړه سړی په غاړه باندې یوسپین کمیس دی‌چه خیرنې ترې یی دګونځی ګونځی ورمیږ په غاړه دورایه ښکاره کیږی. دکمیس دپاسه یی یوتوراوږد کوټ اغوستی‌چه داوړی ژمی بدلون قطعاً په رسمیت نه‌پیژنی؛ دکورتـی نه‌کوز یوتور پتلون ځان په یوجوړ داسی توروبوټانو ورغورځولی چه غیر له همدغسی ورځونه لکه دامونږیی‌چه قصه کووپه بله ورځ هیڅ‌دمه‌نه‌شی کولی. ددې کالو خاوند یوه توره ږیره لری‌چه دهرویښته زړه‌یـی داسی

سپین دی لکه دخاوند شاته دیوال‌یی. دزاړه سړی دخولی هیئت به ستا په زړه‌کی ډیرامیدونه راویښ کړی اوډیره خوښی به درننه باسی مګر هغه دسپینی پګړی اوبانجانی کوټ خاوند چه ده ته مخامخ ناست دی هماغومره په تیارسی ښکاره کیږی لکه دچنګیزخان دمعروفی خیمی په وره‌کی دهغه صحرایی پیره‌دار. په بانجانی کوټ کی دننه سړی یوه یونډی شانی ږیره لری چه یوخوډکویی بی‌وخته دخاوند د پګړی درنګ سره سیالی کړیده. مخ‌یی دغټودانو دماشوم توب دوخت دکومی سختی حملی ناخوښی خاطرې دپولیسی سابقی غوندې‌چه دسړی په تذکره کی ثبتیږی امانتی ساتلی دی . یوسپین پرتوګ یی په غاړه او یوه جوړه نیمزالی کلوشی‌یی په پښودی. پخپله ناسته‌کی ډیر ډیر د پخوانی مصر دعریضه نویسانو مجسموته پاتی کیږی. دواړه ژامې‌یې سره جوختی او ګرد ګرد لاسونه په زنګنونو دمیز ترشا سړی‌ته داسی په برید دی لکه چه هغه ګوندې‌هم دده سره خبرې کوی خودهغه سترګی په یوګردمسین صاعت نښتی دی‌چه دمیز په سرده ته مخامخ‌په درې‌پښو ولاړدی.دساعت لنډی ډبغرکی بازودیولسو دنښی په غټ تورټکی ورننوتی اواوږ دبازویی ددولسو دنښی نه یوخوکوره لالرې دی .

دکوټی نه دباندې ورسی ته نژدې دیوې پخی چوترې په‌سریوسپین ږیری سړی دکوټی برپلو دیوال‌ته ډډه لګولی اونیم ویده غوندې ښکاره کیږی. دځان نه یی یو اوږد، زیږ، وړین کوخو تاوکړی اوملایی په‌یوتور ملاوستنی تړلی‌چه یوه ښایسته شان دزیړ وګلداره کړی وربانديلګیدلی ده. داکمربند دکوخو خاوند پخوا دعسکری شیانو په‌کوم لیلام‌کی‌رانیولی اوډیر وربانديګران دی، دالیلام دپخوانی باچاپه امرشوی اوچه سپین ږیری‌ته به چاوویل:«باباکه پاچا دې ونیسی‌چه ولی‌دې سرکاری‌ملاوستنی ترملاکړی نوخه به کوی؟» ده به اول دوښکی یوداسی حرکت وکړچه‌یعنی زه خوپوه شوې یم‌چه ټوکی راسره کوې اوبیا به یی وویل: «زه به ورته ووایم‌چه قربان دې شم خوتا پخپله لیلام کړی‌و» بې‌له دې‌چه فکر وکړی چه اوس نه هغه باچاشته چه پوښتنه تری وکړی اونه هغه لیلام ګری چه شاهدی ووایی !

ناڅاپه دتیلفون زنګ دکوټی دهدیرې غوندې چوپتیا ګډه وډه کړه دسپینی پګړی لاندې مخلوق یووارخطا جټکه وخوړه اودکوټی‌نه دباندې

سپین ږیری هم دنیم خوبۍ نه راویښ شو .

په دې کوټه کښې چه تیلفون ډیرلږ په کاریږی اوپه ورځ کی چیرته یووار- نیم دبهر نه زنګ راځی، دزنګ انګازو دلیرې اونژدې شاوخوا کوټو خلك هم غوږ په آواز کړل، دتوری پګړۍ نه لاندې، سر کی ژبه وخوزیده :

بلی بلی صاحب ...

. . . .

. . . .

امروز ؟

. . . .

ده توب ؟

. . . .

بچشم ...

په چوتره باندې ناست سپین ږیری دتیلفون دزنګ داوریدونه وروسته خپل ښی غوږ دکوخونه راویستلیؤ، په نورو خبرو خو یا پوه نه شو اویایی دتبصرې وړنه ګنلی مګرچه د تور پټکی خاوند وویل : «ده توپ؟» دی اوچته ودرید، کوخو له یی یونری شان تاو ورکړ اودځان سره غلی وپسیدچه ایله به مقررو پرښتواوریدلی وی: «ده غضب خداشوه خدام باز که رده توپ می‌ته؟» د سپین ږیری د آخر عمر ارمان داوچه یوه ورځ دې کوټی‌ته راننوځی اودمیزشاته په تورکوټ‌کی نعښتی سړی ونه ګوری اوواوری‌چه هغه دشپی خپلی سراچی ته دختوپه وخت‌کی‌دزینې نه رالویدلی اونورده ته بدې بدې نه شی کتلی ځکه چه سترګی‌یی دابد دپاره پټی شوی دی .

• • •

دسپینی پګړۍ خاوند دخپلی پیشی په مخصوصه حاسه باندې‌پوه شوچه «امروز» او«ده توپ» څه معنی لرله. نوځکه یی خپلی غونډی‌غونډې ګوتی په یوعصبانی شانتی حرکت په زنګنو ښځی کړې او د ښکاریانو په اصطلاح بوخ کیناست اوچه دمیزترشا سړی خبره شروع قدرې کړه نودی وربانده تربیخه پورې رسیدلیؤ. دکوټی نه په وتوکی شو، دواړه شونډې‌یی داسی تښتیدلی وې‌چه ده هوخومره کوشش کاوه چه سره

پوخاي‌يي کړی هغه لکه دايلم اودوه سری گوندونه يودبل نه لرې وتلې اتفاقاً دده شونډې‌هم ډيرې‌پيړې‌وې. ډيرچست چست‌قدمونه‌يي واخيستل دواړه لاسونه يي دلامبوزن غوندې بيدو داسی په‌خوزيدو راغلی وو لکه هغه سيخونه چه دگړندی موټر دښيښی واورې پاکوی. دکوټی نه چه ووت اودچوترې نه‌هم چه کوزشونويی مخه دهغو کوټو خواته شوه دکومو چه زيړی ورسی تيټی وی اوښايسته ښه زورور زوږ ترې راووت . په دې

کوټوکښی خلکو سبقونه ويل اوډير پاخه پاخه استاذان پکی ناست وو. زمونږ دآشناچه متاسفانه وروسته له دې يی مونږ دسپينی پگړی‌په‌خاوند نه شو بيلولی ځکه چه دنورو خلکوهم سپين پگړی شته- په زړه‌کی ډيرې خبرې لکه دبرينښنا دحرکت غوندې تيـرې شوې، دهغه بی‌ادبه شاگـرد ځيره‌يی سترگوته ودريده چه هغه بله ورځ‌يی په ده پورې ټوکه کړی وه اودی‌يی دنورو په مخ‌کی پيکه کړی‌ؤ، هغه بل‌چه دده مضمون ورته‌چندانی مهم نه ښکاره کيږی او هغه بل‌چه دده دعمومی تعليم دکموالی‌په وجه‌حتی

دده دصنعت په قيمت هم نه قايليږی. اوهغه بل‌چه دده دکاکا دزوی پوره احترام نه کوی اوهغه بل... داټولی ځيرې‌چه لـکه دسينما ديوې چستی ننداري غوندې دده‌په حافظه‌کی وخوزيدې‌نويی‌دځان‌سره ډير شکروويست چه په دغه ورځ اودغه وخت دده ساعت خالی وو اودی په هغه کوټنی‌کې حاضرؤ چيرته چه د «امروز» او «ده‌توپ» تاداو اينبودل کيده. اوس‌نودی خپل انتقام اخيستی شی، اوس به نوددې ټولو ځيرو خاوندانوته خپـل زوروښيی. دخپل جيب نه يی بی‌نظير قلم پـه رپيدلوگـوتو را وويست

کولمی‌يی ورتاوې اوژبه يی رابهرکړه. اصيل قلـم هيڅ قی نـه وکـړی نوځکه يی گوتی دجيب‌نه تشی راوويستی اودسمال پکی نه‌و مگرهرڅومره يی‌چه ښی اوچپ اودننه اودباندی جيبونه ولټول سپين کاغـذيی پکښی ونه موند. اول خويی فکر وکړچه دکوم شاگردنه به يی واخلی او دمزله نه ونه درید مگر داخيال ورغی‌چه ممکنه‌ده سپين‌کاغذ به ددغسی‌يوچاسره پيداشی چه دهغه په ځيره ده دوخته(۹) رابښکلی اوکه‌دی ترې‌کاغذواخلی بيابه ښه نه‌وی چه دهغه نوم ونه ليکی‌نوځکه په توندی راستون‌شواوتکل يی وکړوچه دتيلفون دکوټنی خواکی‌به دهغه بلی‌کوټنی‌نه چه دفترياڼ‌پکی

ناست دی کاغذ راواخلی په‌دې خویی یقین‌ؤچه هغوی به‌کاغذ ورکړی‌ځکه چه داکار خودده خپل کارنه دی مگرچه دکوټی وره‌ته ورنژې‌شو ناڅاپه‌یی زنگنونه ورپیدل اوزربیرته په ډیراحتیاط راوگرزید. ددویمی کوټی‌ورهغه ځای‌ته مخامخ‌و چیرته چه تیلفون اوهغه دبانجانی میز پوښ والامیز ایښی واوچیرته چه هغه دتورې پگړۍ خاوند ناست و، که هغه دی بیاهم‌لیدلی وی‌چه لاتراوسه یی کارنه دی خلاص کړی ورته به په قارشوی لاڅه‌کوې چه ممکنه ده بل څوك یی دې‌کارته مقررکړی وی. دی‌چه بیرتــه راستون شونوپه رښتیاسره‌یې دشکرنه زړه ډك‌ؤچه دغه بلانازله نه شوه اودده‌هغه ټولی نقشی‌یی گډې وډې نه کړې. په لاره دې‌ته هــم‌اوزگــارؤ چه دشپی دډوډۍ نه هم یوه خاموشه شان استغناء خپل ځان‌ته اعلان کړی. بیدو لکه هغه دم چه سړی یې دبلیاتو ددفعې لپاره پخپل گریوانه‌کې چف کوی نن شپه‌که نوبت ښه دی اوکه خراب څه فرق نه کوی، بیگاته لاڅه سبا اوبلی شپی له هم دچاپروانه راځی. دایې تقریباً داستغناء داعلان متن ؤ یوه بله فقره‌یې هم پرې ورزیاته کړه: دادوه شپی خوبه می‌زړه دچــړې دراتلو دوخت په نژدې کیدو رازونه اودرزانه کوی. اوس نودی ورو ورو هماغه کوټوته نژدې شو چیرته‌چه مشران شاگردان دخپلو استاذانوسره راټول ناست وو. دی‌چه په ډیوډۍ ورننوت دچپ لاس خواته دروازه ورته نژدې‌وه نویی بیرته کړه اوپښه‌یی ورنه واړوله، په کوټه‌کی دننه دیارلس څوارلس کسه په داسی یوهیئت سره ناست وولکه ته به وایی چاورتــه دیومربع په کرښوچونه اچولی اودوی‌یی وربانده کینولی دی. دروازې ته مخامخ‌چه کوم دیوال‌ؤ دهغی خواته یوښه سوقه سړی ناست‌ؤچه داوږدی زیری سپین‌یی په‌تورو زیات وو، په‌سریی یوه تکــه سپینه پگړۍ دیوې سپینی خولۍ نه ول ول تاوه تــپل شوی‌وه، دخولۍ پــه اوږدو او سور باندې یې دتیلی لارې ځغلیدلــی وې ، دپــگړۍ او خولۍ د ډیر سپینوالی نه اوچته معلومیده چه صرف همدانن سحر دواړه دیخدان نــه راویستل شوې دی . په گرد چاپیره ناست قطار کی یو څو نورو پــگړیوهم داستاد دپگړۍ سره سیالی کوله. معلومیدله چه زیرکو شاگردانو ورځی‌شمارلی اود «امروز» په مخصوص اهمیت باندې خبر وو .

په بانجانی کوټ‌کی نغښتی غونډ منډ بنیادم چه په درشایی‌رابښکاره شو داستاذ په وښکوکی دهغی رنځور تبسم اثر ولیدل شو چه ده‌په ډیره

خواری دشونډو ددیوالونو دننه ایسارکړې هغه شاګردان چه جامی یی مخصوصاً پاکی اوپګړی یی غټی اوښی سپینی وې هغوی هم پوه شول دبانجانی کوټ خاوند دیوې غټی سپینی پګړی دخاوند نه پوه پاڼه‌سپین کاغذ وغوښت اوهغه په رپیدلی لاس ورکړ. دکوټ خاوند خپل کولمه‌دار قلم‌چه ډیره ښه نوکه‌یی وه دکاغذ په مخ کیښود اوپخواله دې چه دهمدغه کاغذ ورکوونکی دنامه په لیکلو شروع وکړی‌په یورپیدلی اوګډیدونکی آوازیی اعلان وکړ: «نن دختم ورځ‌ده، په دولسو بجوبه استاذان دشپیتو کسوسره بې‌واقعهٔ‌الهی‌ددې ځای نه روانیږی.»هم دایی وویل‌ان‌شاء الله‌یی دبطلان له ویرې ونه ویله اودیودعدد پسی یی دکاغذ دورکوونکی نوم ولیکه . بیایی درجه په درجه دپګړی او ږیرې دحجم او نظافت په ترتیب نومونه پله پسی ولیکل. یوخوکسه شاګردان چه پټکی یی چندان سپین نه‌وؤ دځان سره پیکه غوندې‌هم شول‌چه ولی یی دغسی لویی ورځی‌ته‌نه‌ؤ پام شوی. پیکه لاخه چه ترخه هم ځکه چه دکال دمایدې نه دمحرومیت په شرم اوعذاب دواړو اخته شول. اوس به ترې په هرځای کښې هغه نور ملګری مخکښی کیږی په دې کوټه‌کی دبانجانی کوټ خاوند نورخه تصرف نه شو کولی چه دانتقام وینه یی سړه شی، مګر داچه نومونه ړو مبی او وروستی ولیکی .

دوه درې نورې کوټی‌هم دبانجانی کوټ خاوند دغسی ولټولی اوپه آخره‌کی هغی پخوانی کوټنی‌ته نژدی یوې لویې کوټنی‌ته راغی. په دې کوټه‌کی درویشت شاګردان اویوغلی شانتی استاذ ناست وو. چه خپل کاغذته یې وکتل شماریو پنځوس‌ته رسیدلی وو، دلته نوردبانجانی کوټ خاوند خپل صلاحیت ولیدچه څوکې‌ته ختلیؤ، اوس نودی کولی‌شی چه دنن غرمی دپاره دچاپه خیټه پښه کیږدی‌کولمی‌یی وکړنجوی اودچا دمودو مودو دچای اوډوډی زپلی خیټه دپولاو اوحلوا په ځنځیدلو غوړو خړوبه کړی، ټولی سترګی همده‌ته اوښتی وې اوپه ټولوکښې تضرع اوزاری وه دبانجانی کوټ خاوند په دمه دمه ۵۲،۵۳،۵٤،۵۵ لیکل، دچانه‌یی انتقام اخیست په چایی احسان اچاوه، دچایی دځان‌نه شردفع‌کاوه، دچایی دښو بدله وراداء کوله اوپه عین زمان کښی‌یی دهغه تورپټکی دخاوند دذوق او طبیعت خیال‌هم‌ټینګ ساته. شمارچه شپیتوته‌بیخی نژدې‌شو دده‌سترګی اتفاقاً په یوغونج غوندې سړی ولګیدې‌چه دهغه سترګی هم‌په همده باندې

ښځي وي. دبانجانی کوټ خاوند ونه شو کولی‌چه سترګی‌بل خواواړوی اودغونج سړی نه تیرشی، بس‌په سترګوکښې مات شو اودهغه نوم‌ته یی «بلامرجحه ترجیح» ورکړه اود ٦٠ په خواکښې‌یی په خپل ښکلی خط او کولمه دار قلم ولیکه .

اوس نودغونج سړی لږوډیره پیژندنه هم په‌کاره ده. غونج سړی دوه‌کاله دخپلو ملګرو سره همدغلته تیرکړی اوکه دهغوی نه پوښتنه‌وکړی نوهیڅوك‌به یی بدیا ښه اوصاف ذکرنه کړی شی. ددې معنی دهغه محیط اوزمونږ دعمومی محیط په اصطلاح‌داده چه دی نوښه سړی‌دی بې‌بدوسړی دی، دچاپه ښوبدو کارنه لری. په دغه بختوره ورځ دده هیئت دغسی‌ؤ یوسپینه برابره پګړی‌یی په سروه، خولی‌یی دداسی شنه بخمل نه‌ګنډل شوې‌وه‌چه تورته‌یی ځان نژدې کاوه، ږیره‌یی توره اودقبضی نه ښه‌زیاته وه، دمخ‌سره نښتی خواوې‌یی چندان برابرې نه وې خودزنی نه ښکته برخه‌یی دیوسرچپه مخروط شکل غوره کړی‌ؤ، سپین اوږ دکمیس‌یی په غاړۀچه دزنګنونونه یی دوه درې لویشتی تیرؤ، دګریوان په حد کښی هماغومره ساده‌ؤ لکه څومره چه دلستونو په برخه‌کښی‌ؤ، چپه ګردن یی نه درلود مګر دورمیږ خیرنو خولو ور باندې یو ګرد چاپیره پټ تیر کړی‌ؤ، یولیلامی واسکټ‌یی په‌غاړه‌ؤچه دخلورمی تنی دسوری‌نه یی یودسپینو زروڅنځیر شروع شوی اودچپ‌لاس خواته دبرنی‌جیب‌خولې‌ته ورننوتی‌ؤ، په دغه برنی اودده نه په لاندې جیب دواړوکښې دوه ګردګرد غونډاری ښکاره کیدل اول خوبه موپیژندلی وی‌چه دجیب‌ګړی‌وه اودویم به زه درته ووایم‌چه دخولی دنسوارو یوداسی دبلی‌ؤچه آئینه‌یی‌هم لرله. په ښی خواته جیب‌کی‌یی یوسونډی دسمال‌ښکارکیده، پیڅکی‌یی ښکته څوړندې‌وې اوخواته‌یی یواوږ دوچ کلك سپین بخن شانتی مسواك ولاړؤ دساعت دڅنځیرښکلایو تورنری‌قلم زیاتوله چه سپین پن‌یی‌دجیب‌په‌شونډه کلکه خوله لګولی‌وه، دواسکټ نه ښکته یوسپین ارت اوږد پرتوګ‌دغونج سړی دپښو په غاړه‌ؤچه ډیرې ګونځی اوپه پیڅویی ډیرې بخی لرلی پښی یی‌څکه لوڅی وې‌چه ددروازې‌په خوله‌کی دهغو رنګا رنګو بوټانو پنو، څپیلو اوکلوشو په منځ‌کی دده دبوټ دوزی په فابریکه‌کی جوړشوی بوټان‌هم پراته‌ؤ، ددې کالو د پاسه زمونږ غونج ملګری یوه توره اوږده

چپن‌اغوستی‌وه چه ډیره‌زیره‌اوپیره توته‌یې‌وه اوفقط غاړی‌ته نژدی‌یی یوه غټه تنۍ لرله اونوره ایله وه. دده په مخکښی دلرگی په یوه‌زیره‌تخته یو کونجی کونجی دسمال‌غوړیدلی اودپاسه وربانديې‌دري‌اوږده اوپلن‌کتابونه‌پراته ووچه سوروری پاڼی‌یی دشین آسمان غوندې دوړو وړو ټکو او تورو په ستورو ډکی پکی وې .

داغونج سړی دښار دیوخاص مالت امام دی، جومات یی پراخه دی ډیر میلمانه پکښې ځائیږی اومقتدیان یی ډیر په دې پسی سرنه وړې چه امام‌یی په جومات‌کښې څه‌کوی؟ په واقع‌کښی هغوی قطعاً دده‌په‌فکر کښی هم نه‌دی اوډیر به‌یی لارؤیه‌وهم نه پیژنی. نوگویادامام سرخپلووطنداران‌و ته لوړدی، څوك‌یی میلمنوته څه نه شی ویلی. مگر ددې سرلوړی بیه‌امام صاحب ډیره قیمته اداء کوی ترڅوچه کومه خاصه موقع پیښه نه شی ترهغی پورې‌ده ته څوك نه دورځی اونه دشپی ډوډی‌رالیږی. دده‌په‌عصرې مقتدیانوکښې هغه زوړ تقلیدچه باید دامام دپاره په نوبت ډوډی ورولیږل شی مړشوی‌دی نوترڅوچه څوك مړنه شی‌یاڅوك‌په خوب‌کی ونه بیریږی یادچا څلویښتی یاتلین نه وی اویاڅو دامامانو شپی اویاآخره چارشنبه نه وی دده کوټنی‌په جومات‌کی دغوری اوقاب‌مخ نه شی کتلی. په دغسی شپوکښې‌یی هم دهغه کورنه امیدکیږی چیرته چه کومه پخه ښځه ناسته وې اوپه پخوانو خبرو باندې اصرار دهغی خپل قیمت زیاتوی. گویازمونږ غونج امام‌چه دیومعتبر مالت امام دی اوجومات‌یی دډیرو میلمنو دپاره‌ځای لری اوسریی لوړ دی په واقع‌کښی په چای اوډوډی خپلی شپی‌سباکوی اوصرف خوشکه کلانکاری ور رسیږی. په دې بختوره ورځ دده برابرنهه جومی شوی چه هیڅ کومه ولجه‌یی نه‌ده کړې اودډیرې خوشکی نه په هرخبره ننبلی اودهرچاسره جنگ کوی. کله‌چه دکوم سماوار یاهوټل‌په څنگ‌کښې تیرشی دچاینکی بوی‌یی نژدې‌ده چه په مخکه راوغورزوی، کله چه دده دټولگی ملگری دخپلونوبتونو، داوومواوڅلویښتیو کیسی وکړی دده زړه څه‌چه خوله یی‌هم اوبه اوبه کیږی، دډیرې مودې نه دی ددې بختورې ورځی په تمه‌ؤ مگرډیره سودایی ددې سره وه‌چه خدای خبردی که ده ته ور ورسیږی دده نه مخکښی ډیری ډیرې اوږدې چپنی، غټی او سپینی پگړی شته مگر دڅان سره یی داعهده کړی‌ؤ چه‌که چیرې هغه ضعیف احتمال خدای رښتیاکړو دی به‌هم دمیاشتو قصوروباسی اوڅان به دخپل مالت دمړی دانتظارنه یودوه درې جومی بیغمه کړی .

توپ ډزو کړ، شاګردان او استادان د کوټو نه را ووتل. هغه بختور شپیته‌کسان‌په غولی‌کښی‌سره راټول‌شول اوپاتی‌کسان دارمانجنو زړونو سره ددروازې نه ووتل، ددولسونه پنځلس تیرې‌وې‌چه دادتمې کاروان هغه دتورې پګړۍ دخاوند په مشرتوب دامید دسرمنزل په لوری روان‌شو.

په یوه لویه کوټه‌کې اوږده اوږده توشکونه خواره اوقالینی وربانده دپاسه غوړیدلی دی. استادان اوشاګردان دسوداګر داول‌ناظرپه لارښودنه هلته پنډ شول اوفورأیې سیپارې راواخیستې اوپه ډیرځیل‌اوایمانداری‌ی یی وربانده پیل‌وکړ. هرچابه دسترګو لاندې یونظر کوټی‌ته‌اچاوه، یونظر به‌یې‌دسوداګر ناظرته کاوه اویوه دغلاکاته به یی دهغو مخامخو او رسیو خواته‌هم لیږل دکومو دپردو د چاودنه به چه د سوداګر د حرمسرای اوسیدونکو دختم‌ګرو پټه ننداره کوله. لږ وروسته یومیانه قدی شان سړی راغی‌چه بونډۍ زیره‌یې‌په زنې پورې‌نښتې، موزې اوپتلون‌یې‌په‌پښو خیرنه نکټایی‌یې په غاړه اوشنه لونګی‌ی یې په سروه. هغه دژبې لاندې څه وظیفه غوندې زمزمه کوله. راغی اودکوټی په‌کونج کښی کیناست او سپیاره‌یې‌راواخیسته. ختم ګری ټول پوه شول‌چه دی څوك دی. دده نه دده دناظرنه، دکوټې‌نه اودهرڅه نه په‌دغه کورکې داستادانو اوشاګردانو پوزې‌ته یومست بوی اوددوی مغزوته یوغوړ خیال راته .

شاګردانو اواستاذانو درسمیاتو دختمیدو انتظار په ډیره بی‌صبری ویستلو، هرچا به خپل ګوانډی ټومبلوچه سیپاره زر «خلاصه» کړی چابه چه سیپاره دوبال دوجهی نه دمصلحت په بناء نه ټپوله نواول خوبه‌ورته نصیحت وشوچه چاته حرج پیښ‌نه‌کړی اوچه هغه به‌لاهم لګیاؤ نو چا به ورته مسئله وښوده‌چه څه بیایې پخپل جومات کې خلاصه کړه .

شاګردانو یواوبل‌ته اشارې کولې اوسترګکونه یی‌وهل، کله چه دماسپښین نسیم سپیږموته ددیګونو پیغام ووایه بی‌اختیاره هر چاخپله سیپاره ټپه کړه اودعاګانې شروع شوې، ددعانه وروسته دسترخوانونه وغوړیدل اوهرقسم خوراکونه وربانـدی کښیښودل شو، شاګردانو او استاذانوته اجازه وشوه چه ورنه راتاوشی، یوغرشوچه ددستر خوانونو شاوخواوې ډکی‌شوې، دهرچابس هم‌خپل ځان یادؤ، زمونږ غونج ملګری چه ځان دمطلب په غوړ پړاوکښې ولیدنویی دخپل جومات حالت رایادشو اوهرڅه یی‌چه ګوتوته ورتلل هغه یی هغومره وخواړه‌چه تر څو تالی اوکنډولی‌تش شول‌اوپه‌ده باندی‌هم خپل‌ځان دروندشو اودیوې مزه‌دارې

برکت

کابل

۱۳۳۸هـش

ستومانتیا خولې پرې راماتې شوې.دهغه ځای نه چه شاګردان اواستاذان راووتل په جیبونوکښې یی پنځه پنځه روپۍ هم زیاتی شوې وې، ځینـو شاګردانو وربانده ولایتی اوبه وځښلی مګر هوښیارو اوپخو شاګردانو هغه هم ګټه‌کړې اومخ په خپلو ځایونو روان شول. زمونږ دغونج ملګرې ساه ډیره خپه‌وه، ده ډیرژرژر اوډیره زیاته ډوډۍ خوړلی‌وه، خیټه‌وربانده ساعت په ساعت درنیدله، جومات‌ته چه ورسید په خواری‌یی ځان کټ‌ته ورساوه، حال‌یی ساعت په ساعت خرابیده مګردایی په خیال کښې هـم نه تیریده چه ګوندې طبیب‌ته به‌یی حاجت شی، آخریی یووچ لیمو چـه په تاخچه‌کښې پروتؤ راواخیست اوداوبـو سره‌یی وځښه . مـګر هیڅ فایده یی‌ونکړه، چه شپه رانژدې کیده دده حالت نورهم خرابیده، اوس‌یی په‌کولموکښې ډیرشدید دردؤ اوسایی ډیره خپه‌وه، دډاکتر فکرهم ورغی مګر پیسی به‌یی دکومه شی؟ دهغه زاړه کتاب‌په قت‌کښې چه کوم نوټونه پراته دی‌هغه دده هیرنه دی مګر هغه نوځنګه کنډوکړی،هغه خوده‌په ډیره خواری راغونډکړی دی. دځان سره‌یی وویل آخربه ښه شم، یوه شپه‌درد دی تیربه‌شی، داپیسی باید کنډوې نه کړم ... مګردده ګمان خطاؤ اوهغه څوك ورپسی راغی‌چه دهغه په راتګ دکتاب دپاڼوپه قت‌کی ایښی نوټونه نه‌کنډویدل، هغه راغی اودی‌یی ددردنه بیغمه‌کړ مګر: څنګه بیغمه؟ داسی بیغمه چه بیاهیڅ غم ونه ګوری .

(۱)

دملك کلی دهغی لویی لاري په سر پروت دي کومه‌چه پایتخت پـه لویدیځو ولایتو پورې تړی- همدغه لاره‌ده چه دلمر ختیځی خوانه دغرونو هیوادته خپل اوپردی، کورنی اوپردیس راننباسی اوورنه وباسی‌یی، په همدې لاره ماکلونه کلونه پخوا دخپل پلارسره یوځای سفرکړی او داسفر به‌تل‌دهغه موجود په شاکیدو په‌کوم‌به‌چه هرڅه دبنیادمونه نیولی‌ان‌ترتیږو وسپنو، غلو، ځاروو اومرغانو پورې بارو اولاری به‌یی ورته ویله. دملك صاحب کلی په یوخوړکې پروت دی اوچه دلاري دوه سره پایتخت اودلمر ختیځ ولایت لوی ښار ونیسونوداځای به‌یی لویدیځی خواته ځیرمه پروت وی. دلاري لمرخاته خواته برخه هم‌هماغومره سره اوهیبتناکه اودخطر نه ډکه ده لکه دمغرب خوايې په کوزنی برخه‌کې‌یې دلیوانو، دیږو، د غلو اوداړه مارو اودسیلابونو خطر زیات‌دی مگرپه برنی خواکښې یوهیبت‌ناك گړنگ پروت دی‌چه یوازې په یوازې ددې ټولـو خطرو سره مساوی دی ډریورچه په دغه کړنگ رابرابر شی نوپه روغه تیریدل، ختل اوکوزیدل ورنه معجزه گنې. په لاری‌کښی سواره کسان‌چه دگړنگ حدله‌راورسیږی نوهرڅومره سورتونه اودعاگانی‌یې‌چه زده وی‌هغه ټولې ختمې کړی،شش کلمی درستی کړی اوځان‌په مړوو شماری، دلوی‌ځوان نذرومنی‌اوآخرت‌یی سترگوته ودریږی .

په دې خپه شی چه ولی یی وصیت نه دی کړی، ولی‌یی حج نه دی کړی، ولی‌یی لمونځ قضاء کړی، ولی‌یی هغه میاصاحب اوهغه پاچا صاحب دځان نه خپه کړی‌دی؟ زما پخپله یادیږی‌چه کله به لاری دې گړنگ تـه نژدې کیده نومابه تباشیر دجیب نه راوویست اودلاری په وسپنواولرگو به‌مې په ځوځووواره ولیکل: «یاالله خیر، خدا حافظ یاغوث‌الاعظم دستگیر» ماته داویل شوی ووچه سړی داعبارت په‌کومه لاری ولیکی نوهغه لاری نه اوړی، رښتیا رښتیا اودروغ دروغ‌چه زمونږلاری تل‌دگړنگ‌نه‌سلامتی تیریدلی .

(۲)

دولس کاله پخوا ددغه کلی هوښیار اوپوخ ملك صاحب چه هم یی دزمانی ډیرې سړې تودې لیدلی وې اوهم دخدای په لاره سم‌و یوه ورځ سهار په جومات‌کښې خپلو کلیوالوته وویل: «هلکو! سږکال چه داخوړ

زمونږ اوستاسی کلی‌ته تنبه شوی‌و اوورنه چپ شو دابی څه نه دی.ماته داسی معلومیږی لکه چه په همدغه شاوخواکې دکلی دخوړپلو دیوال تـه نژدې‌کوم شهید پروت دی هرچاچه کومه نښه ولیده ماته دې ووایی!»دوه درې ورځی‌چه تیرې شوې یوببر سری غوندې سړی ملك صاحب ته راغی اودشهید دنښی دپیداکیدو زیری‌یی ورکـړ. بـله ورځ دببرسری سړی سرنورهم پسی ببرشو، څنی‌یی اوږدې‌شوې، دسرویښتان‌یی کړی کړی شول، یوکچکول‌یی غاړې‌ته واچاوه اودکلی دخوړ پلو دیواله‌ته نژدې‌یولوړ شان قبرته دیره شو. دقبر دپاسه‌یی یوه سرجنډه لـکه کـړه اوڅان‌یی دشهید ملنگ‌کړ. قبرچه زیارت شو اوټول عناصریی پوره شول‌نودکلی خلك به‌یی جوپې جوپې زیارت‌ته راتلل اودعابه یی ورته کوله. کال‌ته چه بیادخوړ دمستی شپی راغلی اوکلی‌ته څیرمه شو خلك وارخطا شول او نوریی په تشه دعا ډاډګیرنه نه کیده، دهرچاچه هرڅه پـه وسه‌کښی وو هغه به‌یی زیارت‌ته راڅغلول اوهمدا سوالونه به‌یی‌کول: «شهیده! دې‌خوړ ته دې زور وښیه» خوړ بیا دشهید دقبرسره ودرید اوپه‌کلی راونه خوت دی حادثی‌نه یوازې دکلی دخلکواودزیارت‌په رابطه تأثیروکړ بلکه دملنگ اودشهید په علایقوکښې یی‌هم‌یوه تازگی‌پیداکړه.ملنگ توب‌په مجاورتوب بدل شو. که پخوابه شهید دملنگ روح‌له قوت ورکاوه اوس‌یی ملاهم‌تړی اوجیب‌یی هم ډکوی. دلویو کسانو په خواپورې‌چه سړی پریوزی بی څه خویی نه پریږدی. دخوړ دمستی دشپو نه برسیره به هم‌کلیوال زیارت له تلل راتلل. هلکانو به ښځی غوښتی، نجونو به میړونه، میړونښو بـه زانگو اچولی او اولادبه یی غوښته، ښوبه نذرونه منل‌چه گرانی شی، دچا به چه سره مخه‌وه هغوی‌به دزیارت خاورې په ځان پورې مښلی‌چه ښه‌شی مرادونه به چه ترسره شول نوپه زیارت‌کښې به نذرپخیده اوخلك‌به پرې راټولیدل. ددې ټولو واقعاتو نگرانی به ببرسرې ملنگ (مجاور) کـوله همدې راشه درشه هغه مجبورکړچه دزیارت سره یوکوټه‌هم جوړه کړی اوهلته د «مراجعینو» او «مشتریانو» داستقبال څه تیاری هم‌ونیسی.دملك صاحب بیبیانی اوهغه پخپله‌هم دشهید زیارت له همیشه تلوراتلو .

ملك صاحب به تل په دې خبره دځان سره ډیر خوشالیده چه‌دشهید قبردده دهځی اوباعثتیا په اثر پیداشو اودې خبرې به ورته لاډیره مـزه ورکوله چه دشهید قبر دده په مځکه کښې پیدا شو .

(۳)

ځومره چه دشهید آوازه خپریده اودزیارت ډول ټکوریی زیاتیده په هماغه اندازه‌یی جنډې‌هم لوړیدلی. دلارې په سربه چه لاری تیریدلی اوس به دهغو سورلیو هم دزیارت سرې جنډې دورایه لیدلی. کله کله به چه لاری دملك صاحب دکلی خواته داوبو یاددمی دپاره ودریدې نوهغو سورلیوبه زیارت‌ته دورادعا کوله کومو به چه په‌لاری‌کی پخواهم سفر کړی و اوسترګی‌یی پخی شوې وې مګر نوکی سواره به تل په منډومنډو دشهید زیارت له پخپله ورتلل اودخیر سفر به یی ورنه غوښتلو. دګړنګ ویرې به تل په‌دې دعاګانوکښې یوخاص تأثیر لاره. طبیعی‌ده چه سورلیو به دنذرانی په ورکړه‌کښی دهرچانه زیاته میړانه ښودله .

دملنګ عایدات ورځ په ورځ زیاتیدل دهغه په کړه وړه‌کی کوم بدلون رانه غی، مګر شتمنی‌یی‌هم پټه پاتی نه شوه. ګروی‌یې واچولی، واده‌یی وکړ اوما اوتاسره‌یی پټ‌پټ قرضونه‌هم وکړل. ملك‌صاحب خوزیارت ته پوره عقیده لرله مګر دملنګ دومره ترقی ورله مزه ورنه کړه. دیوې‌خوانه دده خپل اقتصادی حالت چندانی ښه نه و دبلی خوانه داخبره هم باید په یادولروچه دده ملکی دخلکو په احتیاج ولاړه‌وه نوددغه احتیاج دفع‌کول دده نفوذته صدمه رسولو، برسیره پردې دزیارت‌جم وجوش دده حجره اودیره هم ماته کړې وه .

هرځومره چورتونه به‌یی‌چه ځان سره وهل ددغه کار تدبیریی نه‌شو جوړولی اوداپه شار اوړې بلایی‌نه شوه ورکولی. شپی اوورځی ، جومی اومیاشتی ملك صاحب په همدغه فکر بوخت و اودخپلو تجربو په دریاب کښی‌یی ددې معمی په حل پسی غوټی وهلی .

(٤)

دملك صاحب دکلی نه یو ځومیله لرې په لمر خاته خواته ځوړی کښې یوې درنی لاری تیل خلاص کړل. په هغو سړو شپوکښی‌چه‌دلاریو شمیر هم‌کم‌و دماښام ترتیارو پورې هیڅ موټر پیښه ونه‌کړه. دشپی‌دپاره سورلیو یوې کوټنی‌ته ځان ورساوه اوهلته پریوتل. سهار چه راپاڅیدل یوازی دغاړې جامی‌یی په ځای وې اونور ترې هرڅه غلوړی‌وو. خبره طبعاً حکومت‌ته لاړه اودهغه ځای نه سپاهیان او اوالدار دملك صاحب

ګلي ته راغلل اودده په حجره کښې يې دتحقيقاتو ټغر وغوړاوه چه وهل او ټکول اونورې ټولې بې شرمۍ ورپسې را روانې وې .

اوالدار ملك صاحب ته وويل: «غله راپيدا کوې او که مونږ پخپله ورپسې بډې ووهو ؟ »

ملك صاحب دسپاهيانو خرڅ ورکړ اووعده يې ورسره وکړه چه که په درې شپو کښې يې دسورليو کالي پيدا نه کړل اوغل يې حکومت ته ونه ښودنو بيا دهغوی خوښه چه دده ددهقانانو او اولس سره هر څه کوی. سپاهيان چه لاړل ملك صاحب دکلي خلك راټول کړل او ورته يې وويل: «هلکو! داغلابه ضرور پيداکوی، غل په تاسې کښې دی. دلته خودآسمان نه څوك راتلی نه شی. هرڅه چه شوی خيردی غلطی دهرچانه کيږی توبه وباسی اوځان دحکومت دبازخواست اود آخرت دبدې ورځی نه بچ کړی. زه به هم ستاسی په گناه لمن وغوړوم هرچاچه مال اخيستی وی بيگاته دې يې دشهيدپه زيارت واچوې اوځان دی هم نه ښايی، زه به پخپله دسپاهيانو اودحکومت چاره وکړم.» دماښام تياره چه ټينگه شوه خان صاحب خپل يونوکر مکلف کړچه دزيارت دغزونو کوم ډډته پټ شی اوکه چاڅه راوړل اوهلته يې واچول نودی دې پرې فوراً خبر کړی. شپه دنيمی نه اوښتی وه چه دتيارو دگيډې نه يوڅوك راوو وت اويودوه داوږو پيټی يې په زيارت کښې گوزار کړل اوخپله لاريې ونيوه. دملك صاحب نوکر په منډه هغه خبر کړاوهغه دواره يوه رقعه حکومت ته وليکله چه غل دمال سره پيداشو سپاهيان دسهار په خړه کښې راورسيدل اوملك صاحب دگوتونه ونيول اوپه مال يې ودرول اوبيايې دملنگ دکوټنۍ په دروازه ورننويستل. دملنگ مټې هماغلته وتړل شوې اومخ په حکومت روان کړی شو .

(٥)

ملك صاحب چه دملنگ نه خاطر جمع شونو دزيارت ادارې اوتنظيم ته يې پام شو .

دده لومړنی اقدام داوچه زيارت يې «مصادره» کړ. فوراً يې خپل يوبير زيری نوکرته امروکړچه دزيارت يوه نښه دلاريو دسرك په سرودروی جنډه لکه کړی، دوسپنی پنجه اوسره ټوټه ورپورې وتړی او يوه کوډۍ جوړه کړی اوډيرې رنگينی ټوټی ورپورې غوټه کړی. داکارچه تمام شو

ملك صاحب خپل نوکرته وویل چه اوږدې جامی واغـوندی، سر اوپښی لوخی کړی اوپه هغه کوډی کی دیره شی. هره یوه لاری چه راځی غږدې وربانديې کوې چه «یاالله خیر ... سفر بی‌خطر» داصل زیارت دپاره هـم ملك صاحب یوه چاره وسنجوله. دده یوسر تنبه امام وچه هغه دلاریـو سرك ته دزیارت دمرکز دنقلولو سره چه د مـلك صاحب اصلی آرزو وه شدید مخالفت وکړ. دملك صاحب اودهغه ترمنځه ډیرې مباحثی وشوی چه تقریباً حاصل یی داو :

ملك صاحب! دازیارت که دلوی سرك په سر جوړکړو ډیرخلك ورته رسیدی شی اوبرکت به‌یی‌هم مسافروته رسیږی اوهم دکلی خلکوته .

ملاصاحب: زیارت دچاپه خوښه نه جوړیږی. داشهید رحمةالله‌علیه همدلته پیدا شوی اوهمدلته وربانديې قبر جوړ شوی دی .

ـ دلته خونه دی پیدا شوی خدای خبرچه په اصل کښی یی قـبر چیرته و ؟

ـ خیر خومبارك هډوکی یی همدلته پیداشوی دی اوشرعی مسألـه داده چه دیو قبر خوځول بی‌ضرورته جایز نه دی .

ـ داهم یو ضرورت دی چه خلك ورته ښه ورسیږی .

ـ نه داسی نه ده ضرورت په کتابونو کښی په خپله بیـان شوی دی .

دنبی آخرزمان علیه‌الصلواة والسلام په شرع کی هیڅ شی بی‌بیانه نه دی پاتی شوی .

طریق عام یو شرعی ضرورت دی .

ـ طریق عام یعنی څه ؟

ـ لویه لاره .

ـ ولی هغه باچهی سرك تاته لویه لاره نه ښکاری که څنګه ؟

ـ نه مطلب دادی چه یوه عامه لاره په یوقبـر راشی نـوهغه ورته ورانیدلی شی .

ـ استغفرالله! لویه ځوانه راورسیږې. چاویلی‌چه مونږ دشهیدقبر ورانو و ؟

مونږ فقط دهمده زیارت هغلته د لوی سرك په غاړه جوړ وو .

داکار په شرع کښی ناروا دی ؟

داخو دشهید درنښت دی . دشهیدانو برکت خوپه هرځای کښی یوشان وی څه داځای اوڅه هغه .

ـ ته په شرع کی فلسفی لټوې اوپه خپل فکر پسی کرځی !

ـ ستا په دې کی نورکارنه شته. دامځکه هم زماده اوهغه مځکه هم زماده ـ زما بابا مشر ملك دې خدای پاك غرق رحمت کړی هغه به ویل چه دهغه کوزو رسك څخه راپورته اودهغه برکړنګ نه راښکته داآسمان هم زمونږ دی. مځکه زماده اوشهید زمادی چه هرچیرته یی چه ښخوم ستاپکی کارنه شته .

ـ ښه ده مځکه خوستاده، ګورو به چه څوك دنبی دشرعی پوښتنه هم کوی که نه .

دلته ملك صاحب څه لږ غوندې ډیل وکړ. دی چه یوتجربه کارسړی و دملاصاحب داخطار په معنی پوره ورسید. دواره یی په ذهن کی غټی غټی سپینی سپینی پګړی، نرې نرې تبرګی اوداوږو پورې څنې وګرځیدې دطالبانو دقوت اوهیبت دتخیل نه دننه ولړزید. مګر ملاصاحب ته یی په ښکاره هیڅ وارخطایی ونه ښوده همدومره یی وویل: «ښه ده ګورو به چه څه کیږی. سباله به سره بیاخبرې وکړو» .

ملك صاحب اوملا صاحب په دې سره جوړ شول چه دشهید ګټه وټه دې ددواړو شریکه وی. ملاصاحب به داخبره دنبی په شرع برابره وګنی چه ملك صاحب دلاریو دسرك په سردشهید جنډه اوپنجه لکه کړی اویوه ښه معتبره نمایندګی تاسیس کړی. ددغی نمایندګی ټول کنټرول به دملك صاحب په «ید باکفایت» کښی وی .

ملا صاحب به دشهید داصلی زیارت په هغه کوټنی کی واړوي چه ملنګ ورنه لاس تړلی زندان ته بوتلل شو. هرڅوك چه په دغه اصلی زیارت پیښه کوی دهغوی شکرانی اونذرانی به دخوړ دسیلاب دورځو په شمول په ملاصاحب پورې تعلق لری .

(٦)

دخان صاحب دپاره دلاریو په سرك باندی دزیارت نمایندګی دسپینو اوسرو ژرنده وه. ده به شخصاً دهغه ځای اداري اوتنظیم ته توجه لرله او کله کله به یی دسرك په غاړه کټ واچاوه اوپه ډیره مزه به یی هرې لاری

ته کتل چه دزیارت په جنډه اوکوډی به هرومرو ودریده اوموټروان به یی نوټ اوسورلیو به یی میده پیسی دمجاور (دملك صاحب دپخوانی مزدور) خواته ورګوزارولی. په موټر وانانو اوسورلیو کښی داخبره منل شوې وه چه ددغه ناآواره سرك اوددغه بیحسابه پیچومو اومخصوصاً دهغه هیبتناك اوخونړی کړنګ نه په سلامتی تیریدل بی ددغه شهید دبرکت نه ناممکن کاردی .

ملك صاحب په مخکو باندی نوې کلا ګانی واچولی، اسونه یی واخیستل، شاړې یی په تقاویو آبادې کړې اودبدبه یی بیحسابه زیاته شوه. دحکومت سره یی هم قدر زیات اوروابط یی ټینګ شول اونور نودچا مجال نه وُ چه دده مخی له ورشی .

(۷)

ډیر کلونه پس دسرك مخه وګرځیده. داسرك نورمتروك شواویوبل نوی سرك جوړ شوچه نه پوهیږم په څه شی کښی ددې زاړه سرك نه ښه وُ مګر حقیقت دادی چه اوس لاری په هغه بل سرك ځی. ملك صاحب ډیری ورځی غمجن و مګرآخرورته دوستانو مشوره ورکړه چه د شهید برکت خو لری اونژدې یورنګه وی نوولی ملك صاحب همدغه دزاړه سرك دسر نمایندګی په همدې کم اوکیف دنوی سرك په سر نه جوړوي؟ دملك صاحب داخبره بیحده خوښه شوه اویوه ورځ یی پخپله نوی سرك ته تشریف یووړ هلته یی دغره په اوچتو کمرونو کښی دسرك په سردډیرو هیبتناکو ګړنګونو په منځ کښی یوځای خوښ کړچه دزیارت نمایندګی ورباندې بناکړی. لږې ورځی وروسته ملك صاحب ته معلومه شوه چه دنوی نمایندګی حاصلات نسبت پخوانی ته زیات دی نوبیا ورباندې همدغه سرك چه یوه ورځ یی ورته ددښمن دحملی دخط په سترګه کتل دلنګی غواغوندې ګران شو. زمانه هم عجب کارونه کوی. یوه ورځ ملك صاحب خپلو دهقانانو ته ویل: «په دغه سرك کی چه هرستپك یوه تیږه ماتوی لکه زماپه کوپړی چه ګوزار کوی» دنمایندګی حاصل چه منظم شونویوه ورځ ملك صاحب ته چاپیشنهادوکړ چه دهغی امتیاز په اجاره ورکړی. اوس دملك صاحب خاطر دپخوانه هم جمع شو اوهرکال ډیرې روپۍ ددغی نمایندګی د اجارې نه دده په خزانه کی زیاتیږی .

(۸)

شپه ده اودملك صاحب په حجره کښې ډېر خلك ناست دی. دچلم دلوګو په ډډوزوکښې په یوه پالنګی کټ ملك صاحب پلتې وهلی ښکاره کیږی، په بونډی سپینه ږیره کی ګوتی وهی اوډیرپه فکرکی ډوب معلومیږی دکټ بازوته یوکوچی تکیه وهلی چه همدا اوس یی خپله قصه خلاصه کړې ده .

معلومیږی چه یونوی سرك جوړ شوی اوهغه ددې ځای نه ډېر لرې دی ګرنګونه خوپه هغه کښې هم شته مګر نه ترې دغه کلی ښکاره کیږی اونه دزیارت غزونه. ملك صاحب دقصی دخلاصیدو نه وروسته اول خپلو کلیوالوته وویل: «زماپه دې خبرو باورنه راځی اوبیایی دنووسرکونو دجوړولو «اضرار» بیان کړل او ورپسی یی د «اسراف اوتبذیر» په ذم کی ډېرې مقولی، احادیث اوآیتونه رانقل کړل. اودنوی سرك دمصارفواټکل یی هم کروړونورو پوته وخیژاوه. په حاضرینوکی یوچا وویل: «صاحب اول خوبه خدای پاك داخبره دروغ کړی اوکه بیاخدای نا خواسته رښتیاوه نوپه هماغه سرك به دیوګرنګ په سر دزیارت دپاره یوه کوډی جوړه کړو. شهید څه لرې اوڅه نژدې، قربانیی شم برکتیی هرچیرته رسیږی اوکه داخل ستا مهربانی وی نوزه به یی په اجاره واخلم. دشهید دقبر پوښتنه نوخوك کوی چه چیرته دی؟» دملك صاحب تندی ورو ورو روښانه کیدوچه آخر یی یوتبسم هم په شونډو وښکل شو .

داتبسم دیوې ډیرې زړې خاطرې درایادیدونه پیدا شو. ملك صاحب کلونه کلونه پخوا خوب لیدلی وچه یوبختور سړی راشی، په سریی لاس راکاږی او ورته ووایی :

«بچیه خدای دې په ځمکه کی برکت پیدا کړه.»

PROPERTY OF ACKU 4571

دژوندون میره اوږده ده ستړی کیږی
ګوټ دشونډو دشربت درسره واخله

دوصال ډیوه به مړه وي زه به نه وم
داپه یاد دمحبت درسره واخله

شفیق

سباکتابخانه
رحمت مارکیت عقب قصه خواني
پشاور